# کابل

2 AUG
Copy ..... 1963

12

(۱۲)

پرله پسې ګڼه ۵۳۱

# علمی اجتماعی او ادبی

کب (۱۳۴۲ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹۶۲ کال نومبر او دسمبر


| شمېر | لیکنه | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ـ | دادب څېړنه | دوورياتکوف | ۱ |
| ۲ـ | ریالیزم | روهی | ۹ |
| ۳ـ | پښتانه لیکوال. | دمعتمدشنواری ترجمه | ۱۳ |
| ٤ـ | دپښتو ادبی اوشعری قاموس | واسعی | ۲۹ |
| ٥ـ | هوابازته(شعر) | عبدالروف مخلص | ۳٦ |
| ٦ـ | درحمان باباقومی افکار | عبدالله بختانی | ۳۸ |
| ۷ـ | شاعر اوسپوږمی | ع قتیل خوږیانی | ٥٦ |
| ٦ـ | پښتون څنګه خپل پور اخلی | نیک محمد پکتیانی | ٦۰ |



امتیاز دپښتو ټولنی

مشر گل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

نیکو لای دوور یا نکوف

دپښتو ټولنې افتخاری غړی

# دادب څېړنه

## یو څومخکنی خبرې

په دې ور ځو شپو کښې دمرکز په یوه مجله کښې چه شاعرانه نوم هم لری ما یوه مقاله ولوستله چه په هغه کښې یولوی او محترم یوهاند دادب څېړنه کوله او په خپلو کرښوئې ادب تصویر او تفسیر ، ځلا اورنا ، پوهه او ځیر، هنداره اوبریښنا او هم ئې لارښو داو بومیا و باله . سره له دې چه په ذکر شوې مقاله کښې کافی دلایل نه وو راوړل شوی اوبی له دلائلو هره مقاله چه وی منطقاً لږ عجیبه ښکاری خو بیاهم په دې خبره کښې هیڅ شك نه پاته کېږی. څرنګه چه دهغې مقالې مؤلف زما یو خوږ دوست دی اوهم ډېر کر ان استاد مې دی ، نوزه پردې موضوع باندې بحث نه کوم . یوازې باید ووایم چه زموږ ددوا ړ و تر منځ یوفرق شته او هغه داچه زما ملګری له تاریخی څېړنو اودایتمولوژی سره ډېره مینه او علاقه لری اما زه چه هغوته هم په دروندو سترګو ګورم ،خو زما زیات شوق اومطالعه په محاصرو مسائلو کښې پر ته ده یعنی په بل عبارت زما ملګری په پخوانیو زمانو کښې دارسنیو موجودو شیانو ریښې پلټی او زه په اوسنیو وختو کښې دآینده علاموته ګورم.اوس نور و څخه یو ځل بیا بخښنه

غواړم چه دخپلې مقالې دپاره مې هم «دادب څېړنه» اصلاح دعنوان، په ډول راو اخستله او معنی به ئې بل رنګه وی.

## ادبیات د هنر او آرټ یو ښاخ دی

دبشریت په ټولو تاریخی پېړیو کښې ادب تل دخلکو ایستېتیکی یعنی ښکلا او دجمال پوهې ضرورت او احتیاجات پوره کول، اوس یې هم کوی او کوی به یې ادبی آلات او وسائل هنری دی گورکی ویل چه لیکوال او ادیب هم نقاش دی اما هغه خپل رسمونه دالفاظو په رنګ کاږی. دهنر او آرټ په شان مترقی ادب خلکو ته خلك ښیی او کوښښ کوی چه په دې ډول انسان لا نور هم انسانی کړی. چیخوف ویلې «کوم وخت چه تاسې انسان ته وښیاست چه دی څنګه دی هغه به ښه کېږی». مترقی ادب یوه داسې قوه ده چه په ژوند کښې د حقیقی جمال، ښکلا او حسن دپاره، دخلکو دنېك مرغی په نامه او هم دغه رنګه دالوس او دهر فرد دآزادی د پاره مبارزه کوی.

په یوه حقیقی ادب کښې لکه په ډېر لوی دریاب کښې چه دتاریخ دواقعاتو آرام او ناکرارسیندونه، دژوندانه پیښو تندرودونه. دروښانو او تورو افکارو او غقیدو ژر بهدونکی خوړونه، دانسانیت او ظلم داحساساتو ځلېدونکی لښتی پکښی لوېږی. داټول بیا سره ګډېږی او په ایښو ېدو ایښوېدو مترقې کېږی او په دې وسیله سره دانسان دپاره دآینده وخواته لارپرانیزی. توځکه دافغانستان دادبیاتو اصلی او اساسی پروبلم لکه د دنیا دنورو هیوادو دادبیاتو تر ټولو مهمه مسئله دادب او ژوند مسئله ده. په افغانستان کښې داډول بحثونه په تېرو کالو کښې جاری وو مګر د هغو په څېړلو او حل کولو کښې باید یوه کلکه او صحیحه نظریه له مځه ونه لوېږی یعنی په ادب کښی ښائی چه دمادی او معنوی یاد حقیقت او خیال مطابقات او تعلقات په ښه توګه وښودل او څرګند شی.

بدیعی ادب یوه ساده تاریخی لیکنه نه ده . هغه نه یوازې د زمانو فهرست دی چه پکښې حقیقی واقعات ، پېښې، لوی او واړه شخصیتونه یا بشری اجتماع او ټولنې منعکس کېدای شی .

ادب له یوې خواڅخه دژواندانه د حقیقت او د گردی او له بلې خوا څخه دا دلیکوال دخیال اوفانتازی زړه وره الوتنه ده .

ددنیا دهغو اویولیکوالانو او شاعرانو دآثارو مثال لکه دانټې او شکسپیر ، سعدی او فردوسی، پوشکین او گورکی ، خوشحال خټك او عبدالرحمن ددې خبرې شاهدی وائی او بله خبره هم په لرغو نیو وختو کښې بی اساسه نه وه هغه دا چه خلکو به ورته «تقدیر پیژندونکی» ویل .

مگر په اوسنیو ورځو شپو کښې ادب خپل داسې خصوصیات نه دی بایللی. بالعکس اوس ادب هم لکه نور، همیشه زیار کاږی او نیت لری چه خلك دژوند په معنی وپوهوی او دخپل الوس پټ او ښکاره آرزو او ارمان او دخلکو اوملت دبهترینو نمایندگانو امېدونه ویښی .

لکه یوځوان شاعر چه خپلو پښتنو وروڼوته په زړه پوری چغی وهی :

ځان آزاد کړه ، ځان آزاد کړه کړه ټوك ټوك زاړه دامونه !

ای ، زویکه د پښتونه ! اې ، دنوی ژوند مضمونه !

پاڅه جوړ نوی جهان کړه ! ...

او بل اوسنی شاعر چه خپلو زامنو او لوڼوته خپل ارمان په داسې الفاظو وائی:

احترام دا نسانانو انسانان کړی هسې شان حق د حقدار وی مونږ به نه یو ..

دآدم په خاندان کښې ورورولی وی نه مریی او نه بادار وی مونږ به نه یو ..

## ادب څنګه خپل اډیال او ارمان پلټي ؟

ادب اجتماعي رول لو بوی مګر هغه یوا زې دمترقي اجتماعي اډ یالونو او آرمانونو په څر ګندولو خپل رول عملي کولای شي یعنی فقط په هغو موقعو کښې چه ژوند دایستېتیکی او جمال پوهې دنظر له نقطې څخه ور و ښیی ادب حقیقی ښکلا او جمال دیوه ضروراولازم فورم، ښکل او نورم په حیث تصویبوی او ثبطوی یی. دایی لوړه نمونه ګڼی او هغه ښکل، نورم او فورم یی بولی چه باید او ښائی چه په حقیقي ژوند کښې هرومر وځان ته موجودیت پیدا کړی او په هره وسیله سر ه چه وی عملی کېدای شی.

اډیال او مقصدی آرمان دمفکورې او فکر کولو یوه کاټیګوری ده چه خپل ځان کښې دحقیقی ژوندانه معنی او هم خیالی او آرمانی تفاهم لری.

هغه شی چه ادیب ئې ښکلی او ښائسته بولي او پدژوند کښی ئې موجو دیت غواړی ایستېتیکی اډ یا ل دی اما په هغه کښې تل عمو می بشر ی ، حقیقی، تاریخی، انسانی ملی او طبقاتی علاقې او عناصر موجودوی.

خیالی جمال او ښکلینوب دحقیقی ژوند سره اختلافات لری نو ځکه ادب خپل پاك هدف ګڼی چه ژوند جریان او ترقی خپل اډیال او ارمان تتبعه کاندی.

انتقادی ادب په خپل مخصوص ډول سره دجمال دپاره مبارزه کو ی هغه چه پر نواقصو باندې تنقید نیسی نو په دې وسیله سره ښکلیتوب څر ګندوی او ثابتوی یی.

هر ډول ادبیات باید دجمال په وسایلو سره دحقیقت دپاره مبارزه و کړی او دبشریت دبهتر ینو اډیالونو دفاع طرفداری او همکاری و کړی او ویی ستائی.

لکه یو مشهور پښتون شاعر چه وائی:

ماتوم سپر او توره، تري يوم اولور جوړوم
دجنگ له تورو تيږو، دصلحې کور جوړوم ...
دهغه زور دپاره چه دبل کور ورانا وی
دخپل بقا په قوت، دفنا کور جوړوم !

ځينی پوهان ادب يوه قيمتی دوااو درمل گڼی چه بايد اجتما عی او اخلاقی مرضونه علاج کړی. خرڅنگه چه ځينی مريضان يې له هغه چه په خپله ناروغتيا و پو هېږی او بې د ډاکټرانو له نسخې څخه راز راز دارو ډېر وخو ری مگر نتيجې ته ونه رسيږی نو په همدې ډول «دادب معالجو اوطبی اغېزه» په ځينو خلکو باندې بې اثره پاته کېږی. همدغه رنگه ادب نه کوم جادو او نه څه چال بازی ده چه دهغو په ذريعه ليکوالان نور خلك خطا باسی او يا په درواغی ډول انسانی روح پورته کوی.

دمترقی رومانتيکی شاعرانو له زمانو څخه دارمان او حقيقی ژوند سره مقايسی او پرخلاف کولو فقط يو مقصد درلود چه دژوند دبدلون جريان خپل اډيال ته تبعه اولاندې راوستل شې نو ځکه چه حقيقتاً ادبی اوجمالی اډيال يوازی دژوند دتغير په نتيجه کښې منځ ته راځی اوخپل موجو ديت پيدا کولای شی، له همدې سببه داوسنی انتقادی رياليزم اصلې معنی دانسان او انسانيت دپاره نگرانی اوغمخوری ده او دهغو پېښو دمسئوليت حس دی چه په دنيا کښې کېږی.

## وخت او ادبی قهرمان

خلك تاريخ جوړوی سره له هغه چه دلوړو شخصيتو نو دخا نانو او مالکانو دبهادرانو او قهرمانانو رول داسې مهم دی چه يی تل افسانوی شهرت په ادبی اثارو کښې پاته کېږی، خو بيا هم اوس په تاريخی رومانو کښې داټول ادبی قهر مان لکه ژوندی کسان داسې څر گندېږی دوی خپل غمونه اوښادی، خپل نواقص اوښيگڼې

هم لری یعنی هرڅه لری چه‌مونږ ورته رښتینی ژوند او حقیقی خلك ویلای شو.
سبب داچه هرپوه لیکوال اوشاعر نه یوازې دمنطق له‌قوانینو استفاده کولای‌شی
بلکه دژوند په تأثیراتو صحیح وپوهېږی اوپه‌ښه توګه نور پرې و پوهوی.
ادب باید نه‌فقط خیالی اوافسانوی خود حقیقی ژوندانه‌قهرمان‌هم ووینی. څرنګه
چه‌خلك دتېروپېریو دانسانیت اوآزادی پرآرمانو اواډیالو باندې اتکاء وکړی
نودیوې حقیقی اجتماعی قوې په حیث خپله نېك مرغه آینده جوړولای شی نو
بنائی چه‌ادب دخلکودنظر له‌نقطې څخه ټولوشیانوته وګوری مثلاً یوه‌ستر پښتون
شاعر نژدې شل کاله پخوا داسې شعر ویلی‌و:

زه بل څوك نه‌یم اولاد دغریبانویمه  سکنې‌وروردعاجزانو دخوارانو یمه

رښتیا خبره ده چه دې شاعر دخپل ولوس او«کڅ» سره کلکه رابطه دراوده
او دخلکو رښتینی احتیاجات ورته ښه معلوم وو اوس عجیبه نه بلکه طبیعی او
قانونی‌خبره داچه نوموړی نامتو شاعردټولې نړی دملتونو اوواوسونو په‌ضروراتو
اومقصدو صحیح اوښه پوهېږی لکه چه‌وائی:

جګ شی‌هرچېر ته دصلحې بیرغونه  شی په سمه لار روان سیاستونه
دانسان‌زړګی له‌جنګ‌اوجګړې‌تورشی  نوره‌ماته‌شی اوجوړورنه‌څه‌نو شی.

اوس نه‌یوازې په‌ادبیاتو کښې خوپه‌تیاتر، نقاشی، معماری اوموسیقی کښی
هم «زمانې روح» اصطلاح ډېره استعمالېږی. دااصطلاح فرانسوی دوې فکرو
لیکوالانو له‌خوا په‌ادبیاتو کښې‌داخله کړشوه اووروسته بیاطبعاًدنړی په‌ټولو
دنړی په‌ټول مترقی ادبیاتو کښې تراستعمال لاندې راغله.

اما اوسنی رښتینی شاعر اولیکوال «دزمانې روح» اودخپل شخصی روح اوپه تېره بیاد خپل الهام سره فرق اوبېلتوب نه لری او نه یې قبولوی.

## ادب لارښود دی؛

ژوند پخپله یولوی اوستره معلم اوښونکی دی. نورټول پوهان اولیکولان یی یوازې شاگردان اومتعلمین دی. اما ښه لیکوال چه دژوند درسونه لولی اوپه دې مطالعه کا میابېږی، نودخلکو، دولوس اوملت رښتنی استاداولارښوونکی کېدای شی داخبره دلیکوال اوادیب په هنری اوبدیعی متود اونهضت تعلق لری.

ریالیزم ادبی اډیال او آرمان له پاك آسمان څخه په گناه گاره مځکه را کوز کړی دی. مکرهغه یی بیاپه حقیقی ژوند کښیی ددوومخالفو عناصرو په صورت اوڅهره ښودلی دی پخوانیو اشعارواو شاعرانودجمال ایډیال او آرمان اوهمدغد رنگه پوره کمال او مهارت په ډېره اندازه په مریضانه چرت، تش خیال، په صوفیانه افکارو اوالفاظو اوپه نورو داسې جادو کارانه اود ودا چوونکو احساساتو موندل، دهغو په آثارو کښیې شاعرانه ملنگی اوحواری دمځکنیو غریبانو اومظلو موسره څه رابطه نه درلوده.

اوسنی شاعر چه وائی: «کورو کلی کښې بې قدره خوار وزاز دی اوسېدلی» نودا کومه اسمانی سندره نه ده!

اوس نواد ب څنگه لارښود کیدای شی؟

دې پوښتنی ته ځواب به لاندې په پای کښې ولیکم. په دې ځای کښې نو یواد بی مثال ډېر پکاردی نژدې لس کاله پخوازمایوه ښه دوست اوپښتون شاعر ډېر په زړه پورې شعر لیکلی دی:

توی شیء توی شیء اوښکو توی شیء — لاتر څو پر ځای و لاړی
په سخت موج و وزیء بهر ته — چه ړندې شی سترگې دواړی
د درد مند و زړه له درده — لیمه ژاړی، ژاړی، ژاړی...

یوه بل دوست مې په دې باب کښې لیکلی دی چه هغه دخپل ملی او اجتماعی شعور په برکت دیوه لوی وجود جزء وچه ژړل پرې په کاروو. (ادب لارښود دی ! !) دا خو یوه پخوانی خبره ده او بحث پرې څه پکار دی؟ مگر که اوس هم ټول ولوس ورسره په گډه ژړاو کړی، نو کیدای شی چه ټول مصیبتونه ئې په دې اوښکو ډوب شی؟؟ گمان نه کوم. کومه نتیجه باید په پای کښې ولیکم؟ ادب څنگه ښه لارښود کیدای شی؟ وظیفه یی داده چه دخلکو افکار او دقت هغو شیانو ته وگرزوی چه یوازې دتوجه وړ او حیاتی اهمیت لری او له نورو ټولو شیانو باید دخلکو مفکورې او عقیدې وژغوری او دفاع یی کړی.

په دې ډول نه جمال پوهی او نه ژوند ون سره جدا کېږی او نه ادب له ژوند څخه بیلېږی. دا خبره ساده او هر چاته ښه معلومه ده هگر ما هغه دادب په څیړنه کښې تکرار کړی ده او زماد دوست مقاله مې په ده تکرار کړی. که گران لوستونکی دبلی کو مې گناه په سبب رابا ندې خوابا دی شی نوله هغو څخه بخښنه غواړم

نیکولای دو ور یانکوف.

روهی

# ریالیزم

## Realism

دریالیزم تاریخی موقعیت : ریالیزم دمعنی داتساع لهمخې دژوند اوو اقعیت څرګندولو تهوایی. نوپهدې اساس هغهټول ادبی آثارچه ژوندپې پهاقعي اورښتینی ډول بیان کړی وی- ریالیستیك بلل کیږی .اود همدغه تعریف له مخې باید ووایې چهپهادب کښې دریالیزم ریښهډ پرهلرغونی اوپخوانی ده. و یل کیږ ی چهدیونان مشهورشاعر (هومر)ددوو ادبی مکتبو نو ( ریا لیزم اوایډ یا لیزم ) پلار دی .

لهده څخه وروسته دغودواړو ادبی مکتبونو دخپل تکا مل پړ اوو نه وهلی اوترنن ورځې پورې رارسیدلی دی. داخبره کهڅه هم وروسته ده اما باید ووایو چهدغومتضادو مکتبونو حرکت موازی نهدی . هریوهپه خپل وخت کښې پربل باندې غلبهموندلې ده دیوهادبی مکتب تسلط اوبری پرنورو مکتبو نو باندې په خاصو تاریخی شرایطو پورې اړهلری . هرادبی اوهنری جریان دتاریخ په یوه خاصهاومعینه دوره کښې داجتماعی اواقتصادی علتونو پراساس و ده او تکا مل کوی، ادبیمکتبونه دنوابغو اختراع نهدهچه دهغوپهذوق اوتما یل دې منځ ته راغلیوی بلکهاجتماعی اوتاریخی ضرورت دیچهنوابغ راپیدا کوی اوروزی یې

همدارنګه ادبی جریانات تصادفی نه دی چه پخپل سر او بی پوښتنې میدان ته ورګډشی بلکه مجبور دی چه دوخت او ماحول په تقاضا ځان و پوهوی. په همدې اساس دریالیزم ادبی جریان ځانته تاریخی موقعیت لری او د تکامل پر خوا درومی. دا تلسمې پیړۍ ریالیزم د منځنۍ طبقې د غوښتنو او آرزو ګانو انعکاس دی. د دې پیړۍ لیکونکی دا شرافیت او امتیاز پر ضد قیام کوی او خپله مبارزه پر مخ بیایی. په داسی حال کښې چه د نولسمې پیړۍ ریالیزم د خپل وخت او موجوده وضعې داړ ولو د پاره زیار باسی. دریالیزم لوی نابغه بالزاك (۱۷۹۹-۱۸۵۰) فرانسوی لیکوال دی. د ده انسانی کمیدی Comedie Humane د رالیزم د مکتب بهترینه تحفه ده. که څه هم بالزاك تیوریسن نه و او د کوم ادبی مکتب د تشکیل اراده یې نه درلوده خو بیا هم دریالیزم لارښوونکی او مؤسس یې ګڼلی شو. بالزاك د دې پرځای چه د خپلو معاصرینو په شان د اوهامو او تخلیلاتو نړۍ ته پناه وروړی او خپل راز د اسمان له ستو و، د شپې له تیارې او چپتیا او د مړو له هدیرې سره شریك کړی - د خپل وخت ټول اسرار او مشخصات یې په واقعی بڼه د خلکو د پاره ولیکل د ده لیکنې د نولسمې پیړۍ دریالیستی ادبیاتو په تاریخ کښې ساری نه لری. دی د هغه وخت د ټولو فجایعو او ناوړه اعمالو له مخ نه پرده لرې کوی او د خپل عصر روحیه په ماهرانه ډول ترسیموی. بالزاك چه څه موده یې له سوداګرو او د لالانو سره تیره کړې ده او له تجارتی ژوند سره ئی تماس کړی دی - د پیسو تأثیر او نفوذ یې د ټولنی په کړووړو کښې عمیقاً مطالعه کړی دی. د (بابا ګوریو په کتاب کښې لیکی چه « هیڅ قانون نشته. فقط یو لړ اصول او شرایط دی - له دې امله هغه څوك چه قدرت او مکنت نه لری باید « چانس » ته منتظر وی یا دا چه د قدرت لرونکو خدمت ته ملاوتړی - ځکه په داسې ټولونو کښې شرافتمندانه

کاردپیسو ټولولوسره مرادف دی په بل ځای کښې وایی : « په پاریس کښې عشق حوس او کینه یو بی فایدې شی دی هلته انسان بی له رهنی بانك او دزرو فرا نکوله نو ټ څخه نورخپلوان او دوستان نه لری » د (بابا گوریو) په اثر کښې وایی « پخپلو خبر و اوعقاید و کلك مه دریږه هر څوك یی چه درڅخه وغواړی ورباندې خرڅ یې کړه » لنډه یی داچه بالزاك داجتماعی رمان منل شوې استاذ او د ریا لیزم دمکتب لوی نابغه دی له ده څخه وروسته ځینی نورریالیست لیکوال منځ ته راغلل در یالیزم نوم اوددی مکتب قواعد دلومړی ځل دپاره په ۱۸۴۳ کښې د (شانفلوری) له خواوضع شول شانفلوری د (ریالیزم مانیفیست) کښې داسې لیکی « دریالیست دعنوان نسبت ماته کیږی په هماغه ډول چه درمانتیك توم د (۱۸۳۰) کال په لیکو الو باندې ایښودل شوی دی » شانفلوری اودده ملګری (دورانتی) له شعر څخه ډیر زیات متنفروو (دو رانتی) دټو کو په ډول یوه قانونی طرح په څو ماد و کښې ترتیب کړه اوپه هغه کښې یې ولیکل چه هر څوك چه شعر ووایی په ا عدا م به محکوم شی ده در یالیزم په نرم یوه مجله هم خپروله او په هغې کښې یی یې رمانتیك لیکوالواو پارناسینانو انتقاد ونه ایکل .

دریالیزم بل مشهوراو پیاوړی لیکوال (ګوستاوفلوبر Gustave Flaubert دی دده اثر (مادام بووا ری Mhdame Bovary) چه نژدې څلورسوو پاڼوته رسیږی دریالیز مقدس کتاب ګڼل کیږی په دی اثر کښې له خالص واقعیت څخه کار اخیستل شوی دی حتی ویل کیږی چه دداستان موضوع واقعاً په فرانسه کښې پیښه شوی ده دفلوبر په عقیده لیکوال دواقعیت دښو د لو دپاره باید دخپلوقهر مانانو په مقابل کښې داسې موقف اختیار کړی لکه یوعادل قاضی یې چه دقضایی پیښې په وخت کښې غوره کوی چارلس دیکنس Charles Dickens دانګلستان مشهور لیکوال هم داجتماعی رمانونو

په لیکلو کښې دبالزاك په شان لوی لاس لری دیکنس (۱۸۱۲- ۱۸۷۰) دوړو کتوب په دوره کښې دخپلې ټولنې له بې رحمیو اوظلمه نوسره مخامخ شو دده پلار دمفلسی په وجه جیلخانې ته واچول شو اووړو کی چارلس دګمرکی په ګدام کښې مزدور شو په داسی حال کښې چه دلوږی او پریشانی سره لاس په ګریوان و- دخپلې زده کړی دپاره بنو ونځی ته هم تلو څه موده وروسته یې دپیك ویك پاپرز Pickwick Papers په خپرولو سره زیات شهرت وګاټه دده ادبی شاهکار (ډیویډ کوپرفیلډ David Copperfiel) نومیږی دیکنس دخپل ماهرانه سبك په وسیله دلوستونکو به احساساتو هر راز لوبې کولای شی دی دخپلو لیکنو په یوه مخ کښې سړی ژړوی او په بل مخ کښې خندوی سره له دی ویلی شو چه ددیکنس ریالیزم ځینی نیمګړتیاوې لرې دی په خپلو لیکنو کښې دتکاملی سیرپر ځای ظاهری توصیفونو ته زیات متوجه دی او دغه توصیفونه هم کله کله دمبالغی او کاریکاتور شکل پیدا کوی.

دریالیزم بل مشهور لیکلوال کنت لیو تو لستوی Count LeoTolstoy دی چه په کال (۱۸۲۸) کښې دروسیې په یوه اشرافی کورنی کښې زیږیدلی دی دده مشهور شاهکار «جنګ او صلح» نومیږی.

دتو لستوی ریا لیزم هم تصفیه شوی ریالیزم نه دی بلکه دایډیالیزم ایرې ورسره ګډې شوی دی دده دریالیزم لوی نقص دادی چه اجتماعی معایب او نیمګړتیاوې دوعظ او نصیحت او دباطن په تصفیه کولو باندې لرې کوی. سره له دې دواقعیت په تمثیل او داجتماعی جریانا تو په توضیح کښې دتو لستوی هنری قبوغ ځر ګندوی اودغه پورتنی نیمګړتیاوې دی دریالیستانو له لې څخه یومخی نشی ایستلی

لیکونکی : گ.ف، گیرس
لەروسی نه مترجم : معتمد شنواری

# پښتانه لیکوال د نورو په نظر کښې

## گل پاچا الفت

گل پاچا الفت په ۱۹۱۱ کال دلغمان په کڅ کښې زیږیدلی دی، دی په قوم سید دی او دینی او مذهبی علوم ئې سرته رسولی دی. په ۱۹۳۵ کال کښې الفت دا نیس په ورځپاڼه کښې کار کاوه او چه پښتوا کاډیمی تشکیل شوه نوده ته دیو ې مسئولې چوکۍ وظیفه ور کړای شوه، الفت دیوه کال دپاره دزیری مدیرو، په دې وخت کښې ده په اخبارونو او مجلو کښې دژبې او د پښتنو لی په باره کښې مقالې چاپولې د مملکت د اجتماعی ژوند په بدلون او تحولاتو کښې ئې لیکنې کولې.

الفت

الفت ډېر حقوقی اثار په پښتو ترجمه کړی دی او دی یو له هغو کسانو څخه دی چه د پښتو د تصفیی او سوچه والی طرفداری کوی.

الفت د ۱۹۳۹ کال په کانکور کښې گډون کړی ؤ، دده اثر (گټوری) له دې کبله د نورو مضامینو نه امتیاز وموند چه د موضوع له حیثه لوړو. د کابل په کالنی کښې دده یو وړو کی اثر (بله دنیا) چاپ شوی ؤ، د دې اثر نه د نوموړی لیکوال ایډیال او مفکوره معلومیږی، دا اثر سره د دې چه لنډ دی لفظی ښېگڼی هم نه لری، په دې اثر کښې په ښکاره سره د مملکت د بیرته پاتې کیدو او د نفوسو د ژوند انه د سویې د ټیټوالی او د فقر نه پټ نارضایت لیدل کیږی، الفت پوهیږی چه د مملکت اقتصادی پرمخ تگ د ټولنې په جوړښت کښې په مهمو تغیراتو پوری تړلی دی، لیکوال بر سیره په دې چه د نورې دنیا په کاپیتالستی تمایلاتو (یو ازنی پنگو او مادی مسابقو) انتقاد کوی، پیشنهاد کوی چه په عوض دې ئې ښه نیت، ذات البینی معاونت او گډه مرسته مینځ ته راشی.

په ۱۹٤۱ کال کښې الفت د اصلاح ورځپاڼی د پښتو څانگې ته تبدیل شو، په همدغه کال کښې دده کتاب (بله ډیوه) چاپ شوه، په دې کتاب کښې د لنډو بدیعی او ادبی اثارو سره سره اجتماعی مضامین، اشعار او وړی قصی هم ځای شوی دی چه دا ټول د سوچه پښتو په روح لیکل شوی دی، د دې مجموعی د بدیعی اثارو په مینځ کښې یوه قصه (د پښتنو کیږدی) ده، د دې قصی نه د الفت کرکټر او طبیعت معلومیږی دا قصه داسی شروع کیږی:

د غره په لمن کښې په جگه غونډۍ توره کیږدی ولاړه ده، یو لورته په نښترو او څېړیو پټ هسک غر ښکاری او بل لو رشین بڼ د سړی تر ستر گو کیږی، د غونډۍ په خوا کښې یو لوی خوړدی او سپینی او به چه له یوه جگ ځایه راتوییږی

کږ ې وږې پکښې بهیږی اوله ځانه سره څه وائی، د کیږ دی څښتن یو کنډک وزې لری چه یو زوی ئې وزې او بل زوی ئې ورغومی هره ورځ د څړ دپاره بیایی مازیگر مهال چه وزې راشی او د ورغومو ستر گې پری ونښلی یو بل ته داسې نار ې وهی چه دمیندو او بچیو مینه له ورایه ترینه څر گندیږی.

کله کله چه ځول او اوریاوی د کیږدی څښتن څه نور پیڅولو نه له کیږ دی سره ونښلوی او خپلې وزې ورلاندی پنډې کړی.

دا کیږدی چه ددې سړی او د وزو دپاره یو ښه سیپ دی دهمدې وزو له وز غنو جوړه شو ې ده.

هو! دا کیږدی دهمدې وزو له وزغنو جوړه شو ی ده خو وزغنی دوزو په شا باندې نورې هم شته چه د کیږ دی کار ور ځنی نه اخستل کیږ ی او نه د ږلی د گا ټو مخه نیو لی شی.

کوم وخت چه دې سړی دوزو له شا وزغنی پریکولې زه په دې نه پوهیدم چه دا به یوه ورځ دهمدغو وزو په ښه راشی ما به ویل چه دا سړی ددې وزو په پیو او وزغنو دواړو باندې خپله ښه کوی او په وزو باندې هیڅ زړه سوی نه لری خو دا سې نه ده، دی خپلې وزې ډېری ښې ساتی دده هیڅکله دخپلو وزو غوښو ته زړه نه کیږی یواز ی پی ورځنی اخلی او خپله ښه پری کوی، پی هم ټولې دی نه اخلی دوزو په غو لا نځو کښې دومره څه پریږدی چه بچی ئې ور باندی ښه ماړه شی دا پی هم دی وړیانه خوری تر څو چه دی دا وزې ښی مړې نکړی دپیو اسره ورته نه کوی، نو ویلی شو و چه پی هم دی دوزو په غو لا نځو کښې اچوی چه دورغومو ښه هم ورسره کیږی، دی پخپلو وزو دومره زهیر دی چه یائې پخپلو زامنو پیائی او یا خو ورته داسی سړی نیسی چه هغه لکه لیو ه دوزو وینو ته تږی نه وی او ډېر زړه سواندی وی چه ټوله شپه په ویښه تیروی او لېوا ن دوزو

داړلو ته نه پریږدی، دی ډېر پام کوی چه وزې ئې داسی بوټی و نه خوری چه هغه بوټی ورته ښه نه وی او ناروغه کوی ئې، په داسی لاروئې هم نه بیائې چه هلته گړنگو نه او پاڼو نه وی او دلویدو ډار په کښې وی.

و گوری ء ! دوزو خاوند له خپلو وزو ځنې څنگه ښه گټه کوله او څومره ښه ئی ورسره کول، دیوه کام پوه او پیاوړی مشران او خواخوږی هم له خپل کام سره همدغسې کوی نو دغسې زړه سواندی مشر ته به ولی سړی خپل ځان نه سپاری ؟ بې له دغه راز مشرانو خو دیوه کام ژوندون هم ډېر گران دی، په تیره بیا په دې وخت کې چه ویښو او پیاوړو مشرانو ته زښته ډېره اړه لیدل کیږی .

د(سبا) په مضمون کښې الفت وایی چه دانه ده معلومه چه دغه ورځ به د ځان سره څه راوړی او څه به د ځان سره یوسی، دهر چا کار او زیار د سبا ورځې دښه و الی دپاره دی او دنن ورځې دعمل نتیجه د سبا ورځې په لمن کښې اټوی خلك سبا ورځې ته هیله او عقیده لری او همدا عقیده د تول شریت دبرمختگ باعث گرځی

لیکنې کړی دی او استادانه اشعار ئې ښودلی دی، دی اشعار په دوه ډوله ویشی: انفرادی (عشقی) او اجتماعی (وطنی) خو په اوسنیو اشعارو کښې وطنی او ملی اشعارو ته پر انفرادی اشعارو فضیلت او ترجیح ورکوی.

دشعری موضوعاتو مسایلو ته دده کتاب (ادبی بحثونه) وقف شوی دی چه په ۱۹۴۵ کال کښې ئې دخوشحال جایزه وړی ده. په دې کتاب کښې دی دا نسان په ژوند کښې داشعارو په رول خبرې کوی او د پښتنو شاعرانو لکه خوشحال خان عبدالحمید، شیدا، او نورو ویناوې په کښې راوړی دی.

الفت د (پښتانه شعرا) ددواړو ټوکونو په جوړولو کښې ګډون کړی دی او په ۱۹۴۶ کال کښې ئې (پښتو سندری) نومی کتاب چاپ کړ مګر دده علایق دیو ادب پیژندونکی په حیث یوازی په اشعارو پورې محدود نه دی، دی پخلپو مقالو او لیکنو کښې دنثری اثارو ژبه او سبک لټوی، استادی پر ابلمونه راوړی او دلیکوالو داثارو انفرادی خصوصیتونه ښې چه دغو [illegible] کتابونه [illegible]

[illegible]

الفت د بی غرضه دوستی دپاره فعالیت کوی او دپښتو دغه مشهوره لنډی چه د مختلفو ملتونو په یووالی او ورورولی شاهدی ور کوی راوړی :

یا رمی هندو، زه مسلمان یم  دیار دپاره درمسال جارو کومه

دالفت دفکر او جهان بینی د معلومولو دپاره دده دامقاله ( پخوانی ډیوی ) ډیر اهمیت لری قصه دی نه شروع کیږی چه دی یو وخت په کور کښی ناست دی او هغو شیو نو ته چه په کور کښی دی ګوری او فکر وهی او دفکر جلبولو شیو نه هم ډیر وو، په کوټه کښی برق لګیږی . رادیو چالان ده مګر د دغو نوو شیونو سره ملته زاړه شیونه هم موجود وو، په دیوال کښی یوه توره لوګی وهلی ډیوه ایښی ده او ورسره په څنګ کښی ډیوټ هم ایښی ؤ، دغو شیونو پخپل وخت کښی ښه خدمت کړی و، او اوس بیخی د استعماله وتلی وو، ټولو نه عجیبه داده چه دغو زړو شیونو د کور د خلکو مخه نه وه بنده کړی او په یوه ځانګړی ځای کښی پرا ته وو ، الفت لیکی چه اوس پوه شوم چه هره دوره نوی شیونه د ځان سره را وړی مګر زاړه شیونه هیڅوک هیسی نه غورځوی بلکه محترمانه وضعیت ورسره کوی، د اجتماعی ژوند په خصوص کښی باید په دی اعتراف وشی چه د وخت تحولات په ژوند تاثیر اچوی او هغه د خپل سیوری لاندی راولی خو د الفت په عقیده باید سره د دې پخوانی شیونه وساتل شی ، پخوانی ډیوه پخوا داسې ښه وه لکه اوس چه نوی شیو نه ښه دی خلکو ته نه ښائی چه پخوانیو شیونو سره سپکه وضعه وکړی او د پخوانی نسل مشهور کارو نه هیر کړی .

په هر مملکت او په هر کور کښی باید ښه عادت وساتل شی نوی شیونه استعمال شی د نوو نه دی ګټه واخستل شی خو سره له دې باید د زړو شیو نو غم و خوړ شی او محفوظ و ساتل شی .

الفت دیولوی ادیب په حیث په افغانستان کښې د سر یعو تحولاتو طبیعت او ضرورت درك کړی دی مگر دی کوشش کوی چه دنوو شیونو او زړو په مینځ کښې سوله قایمه کړی او یوتر بله سره هم اهنگ شی خو باید وو ل شی چه په ورستو وختونو کښې بی له دی نظریې نه اوښتې دی .

الفت خپل بدیعی نثری اثار نه یوازی د کابل په مجلې کښې چه تر ۱۹۴۷ پورې ئی دی مدیرؤ چاپول بلکه په درسی کتابونو (پښتو کلی گانو) کښې هم مدا کار کړی دی. دته: پښتو د پنځم سمستر کرور په غاړه ؤ. ده په دې سمستر کښې قصی، ترجمی فولکلوری آثار (چه د مختلفو خلکو له خواویل شوی دی) او خپل اثار ځای کړی او چاپ کړی دی، دلته ـ دالفت لخوا بوه وړه قصه (دری هیلې) به ژړ ندی ژبه لیکل شوې ده او هغه داده: دژمی شپه وه، یو فقیر سړی له خپلې ښځه سره راوز په غاړه ناست ؤ او دخپل بوه ـ گاونډی د نیك مرغی په باب کښې گرېدل، سړی وویل: که ماته پیسې درلودلی نو ما به تجارت کاوه او ډېر ژر به مو ډېر ذخیره پیدا کړی وای، ښځې ئې دهغه له خولی خبرو اخیستنه اوؤ ویل: چه ده پدې نه راضی کیږم چه یوازی پیسی ولرم بلکه زما په زړه کښې نوری اسری هم شته. زه غواړم چه یو لوی ښه کور ولرم چه په خوا کښې ئې ښه لوی باغ هم وی او لویه ویله په کښې بهیږی، کاشکی اوس هم یوه ـ داسې ښاپیری وای چه زما هیلې ئې ترسره کړی وای، په دغه وخت کښې چه دوی دواړه داسرواو ارزو گانو په یو بل عالم کښې گرځېدل یوه ښکلی ښځه دوی نه څرگنده شوه او ورته ئې وویل: چه زه ښاپیری یم او له تاسې سره وعده کوم چه هرڅه چه تاسې و غواړی هغه حاضر کړم مگر په دې شرط چه ستاسې هیلی له دروهیلو څخه زیاتی نه وی .

ښاپیر ی دا وویل او ور که شوه. مېړه اوښځه هك پك پا تی شو اولږ څه وروسته ښځې وویل که زماپه غوښتنه څه کېدلی مابه خوا هش کړ ی ؤ چه زه ښکلی شتمنه اوهوښیاره ښځه وای نوزه به ډېره نیك مرغه او بختوره وم، مېړه ئې وویل: که یوازی همدغه شیونه مونږ ته را کړی شی امکان لر ی چه کله ناروغه شوو اوپه ځوانی کښې مړه شو، نو دا به ښه وی چه روغتیا، خوشحالتیا او ډېر عمروغواړو، ښځی ناری کړی چه بې پیسوډېر عمرڅه په کار دی مو نږ باید ښه فکرو کړو اوبیا څه وغواړو، ښځې د نغری اور ولاړه او سکروټې ئې تازه کړی مگر له خولې ئی ووتل: چه کاشکی اوس یو چر گوړی و ای چه په دې اور کښې مو کباب کړی وای، داخبره لاتمامه نه وه چه یو پاك کړی چر گوړی په اور کښې ولوید اوسړی خپلې ښځې ته په قهرشو چه دغه دی یوخواهش دې له لاسه ووت هغه هم په یوه چر گوړی، که ز ماله لاسه کېد لای دا چر گوړی به مې ستاپه وچولی پوری درنښلولی ؤ دده د خبری سره سم چر گوړی د ښځی په وچولی پوری کلك ونښت اوښځی په ژړالاس پوری کړچه دا دې څه و کړ ه ؟ له ما ځنی خوته احمق وې اوستاخواهش خوزماله خواهش ځنې ډ یر بیځا یه ؤ که دریم خواهش زماخوښې ته پریږدی خو ښه او که نوی نوزه خپل ځان له بامه غورځوم اوځان وژنم. همغه ؤ چه سړی دریم خواهش خپلی ښځې ته پریښوداو ښځې ئی وویل: چه زه بې له دینه چه چر گوړی مې له وچولی نه ولویږی نور څه نه غواړم اونه بل خواهش لرم. داخواهش هم سم دلاسه قبول شو اوچر گوړی ئې له وچولې نه ولوید ، ددوی دری واړه هیلی ومنل شوی مگر بې له دینه چه یو چر گوړی لاس ته ورغی نورڅه ئې په ستر گوو نه لیدل .

بله‌خوند وره قصه چه‌یه سمستر کښې راغلی ده (ښه مشوره) عنوان لری او هغه داده :

یو دهقان ښارته راغی او په یوه ځای کښې ئی یوسړی ولید چه ددعو ومشهور وکیل‌ؤ او ډېر خلك ورته راغونډ شوی وو، دی راغی او هلته کښینا ست، وکیل ورځنی پوښتنه وکړه چه ته هم کومه دعوه لری چه دلته راغلی ئې؟، ده په‌ځواب کښې وویل څه شی چه په‌دنیا کښې زما بدایسی هغه دعوه ده، وکیل بیا پوښتنه وکړه البته دخپل کاله مال به ویشې ؟ دهقان وویل نه مونږ کره ویشل او تقسیم هیڅکله نه وی اوټول په یوه کونډۍ راغونډ یږو، وکیل وویل : خیر، نوله ما څخه څه غواړې؟ اودڅه دپاره راغلی ئې ؟.

دهقان ورته وویل: ددې دپاره راغلی یم چه یوه ښه مشوره را کړې چه هر وخت مې په کارشی

وکیل قلم واخیست اوپه یوه کاغذ باندې ئی ورته ولیکل: ( دنن ورځې کار سباته مه پریږده.) دهقان کاغذ همغسې نغښتې له ځانه سره راواخیست او خپل کاله ته راغی اوددې له امله چه دی لوستونکی نه ود کاغذ په مضمون باندی هیڅ پوه نه شو، کله چه دی خپل کورته راورسید ماز یگر مهال‌ؤ اوډېر ستومانه شوی هم ومگر ددې له امله چه څوورځې د مخه‌ئې خپلی‌شپښتې ریبلې وې اوپه پټی کښې وې نوسودا ورته پیدا شوه چه دشپې باران نه شی او شپښتی باران خرابه نکړی نوئې خپل ځوی ته وویل: څه! چه شپښتی‌له پټی نه راوړو! اوخپله لارخلاصه کړو، مگرښځی ئې ورسره جگړه وکړه چه په دی نا وخته داکار څه ضروردی اوس ستړی هم یې باید دمه وکړې .

زوی ئې وویل: هوا گډه وړه ده که شپې باران وورېږی شپشتی به مو خرابه شی باید همدغه اوس ئې راوړو او کور ته ئې راورسوو.

موراوزوی دواړو پخپله خبره ټینگ شول اودهقان ورته غوږ نیولی و، په دې وخت کښې ناڅاپه ور ته ددعوو دو کیل مشو ره په یادشوه اووئې ویل: تاسې غلی شئ ماته چایوه ښه مشوره را کړی ده هغه به ستاسې د عوه فیصله کړی، زرئې کاغذ له خپل جیب ځنی راوویست اوخپلې ښځی ته ئې ور کړچه ئې ولولی، ښځی چه کاغذ ولوست داجمله په کښې وه: (دښ ورځی کارسباته مه پریږده) دا مشوره چه دوی واورېدله د رې واړه په دې خبره متفق شول چه باید شپشتی راوړی اوسباته ئې پری نږدی، همغه ؤ چه شپشتی ئې کورته راوړې اوپه هماغه شپه باران شروع شواوزورور سیلاب راغی، د نور و خلکو شپیشتی چه په پټیو کښې وې سیلاب یو وړی اویوازې همدوته څه تاوان ونه رسید اوپه هغه کال ئې شپیشتې ډېری پیسی شوی او خو راډېره ګټه ئې وکړه.

کوم وخت چه دپنځم سمستر دوهم ټوک له چاپ نه خلاص شو په دغه وخت کښې دالفت د کابل دورهٔ هم خلاصه شوه او څه کم دوه کاله ئې (۱۹٤۷ - ۱۹٤۹) په جلال اباد کښې تیر کړل اوهلته دننګرهار دورځپاڼی مسئول مدیر ؤ لهدغه ځایه ده د کابل مطبوعاتی څانګو سره کومك کاوه او مقالې او آثار به ئې ورته لیږل، دلته دده د آثارو، مقالو او قصو مو ضو عاتو تغیر پیدا کړ او په دا سې حال کښې چه ده غوښتل چه د عصر سره روان شی کله کله به ئې په هغو بې انتظامیو اوبی ترتیبیو باندی چه په مملکت کښې وې انتقاد کاوه.

دالفت دهغو آثارو چه دجلال آباد په دوره کښې ئې لیکلی دی ځینی برخی دده په کتاب (څه لیکل یالیك پوهه) پورې دتعلیقات په ډول چاپ شوی دی، دلته

په هغه اثر کښې (د کوم ځای دی؟) الفت دیو استفاده جوی او رشوت خور مامور په حق کښې لیکی: یو کورئی دلته دی. بل په کابل کښې بل په یو بل ځای کښې. څه ځمکه په کوهدامان کښې لرئ، څه په بغلان کښې څه په یو بل ځای. نغدې روپئې په رشوتو نو دلته پیدا کړې مګر ګټه ورپا ندی نور بانکونه کوی په یو بل ځای کښې.

ددې ځای ژبه ئې نزده او په پر دیو ژبو افتخار کوی، نو لیکوال پو ښتنه کوی چه دی د کوم ځای دی؟.

الفت هغه مامورین چه دخپل هیواد او خپلی خاورې سره مینه نه لری ملزموی او د تنقید لاندې ئې نیسی، همدا د الفت خصوصیت دی.

دلته (کټوری) قصه چه په ۱۹۲۹ کال کښې چاپ شوی ده رایاد وو. که څه هم ددې قصی مضمون او (د کوم ځای دی؟) د اثر مضمون توپیر سره لری مګر هغه طرز چه نوموړی لیکوال ور نه استفاده کوی په دواړو کښې یودی، دی په ښکاره ډول په مضمون کښې د پښتنی ژوند د مختلفو اړخونو حقیقی تصویر راښیی مګر د مضمون آخر او نتیجه ئې بیخی د کلام د روح او سیاق سره مخالفه وی او بل رنګ ور کوی:

د الفت په نورو اثارو کښې په هغو خلکو باندی چه د خپل ماموریت نه بدې استفادې کوی انتقادونه کیږی، دده د سبك طرز ددې اثر نه (حا کما نو ته وایم) معلومیږی الفت دوی ته بلنه ور کوی چه په هر ځای او په هر څه کښې منصف اوسی، او دا ځکه چه دا کثر وخلکو سر نوشت د حکامو په اقدام پوری تړلی او د دوی داغیزی لاندې دی. په همدغه روح د الفت لخوا دا مضمون (سوداګره!) لیکل شوی دی: «سوداګره! هر څه چه خرڅوې هغه خرڅ کړه مګر خپل دین او ایمان مه خرڅوه!

هرڅه چه اخلي هغه واخله مګر دخوار او غریب ازار مه اخله !

له هر ځایه چه هر څه راوړي، رائي وړه مګر ګوره چه بی انصافی او بی رحمی درسره رانه وړي ! .

په اسونو او موټرو سوریږه ! خود چاپه اوږومه سور یږه !....» د مملکت په ادبی ژوند کښې تحولات او تغیرات امکان نه لری چه دالفت په اثارو پورې مربوطنه وی ، دده په اثارو کښې نوی آهنګونه او نوی افکار پیدا کیږی مګر په تدریج او کله کله .

په یوه مضمون کښې (خان لالا) الفت دیو خان د ژوند په څرنګوالی تنقید نیسی : «خان لالا هیڅکله بی نوکرو او سړ یونه ګرځی . دی هیچا یوا زې نه دی لیدلی ، پخپل صفت هر څوك خوشحالیږی مګر دی بی له خپلو او صافو بله خبره نه شی اوریدلی ، که بل څوك دده صفتو نه بیان نکړی دی پخپله خپل صفت په ښه شان کولی شی .

خان لالا بخششو نه هم کوی او په کال کښې په زرها وروپی ، نقد او جنس یو او بل ته ور کوی مګر خوار او غریب ته سوی مړی هم نه ور کوی .....»

دالفت ترټولو مهم مضمون (زمونږ حال) دعنوان لاندی راغلی دی او داسی دی: «په یوه ورځ په یوه ساعت کښې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راوتلی ، هغه یو د کم خونی په وجه او دابل دفشار خون په سبب مړ شوی و، د هغه جنازه څلورو تنو په اوږو راخیستی وه، ددی بل په جنازی پسې بیحسابه لوی او واړه موټرونه روان وو .

هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو ، ددغه بل وینه زیاته شوې او تیزه شوې وه ځکه ئی ژوند ونه شو کړای . دوی د واړه مړه شوه مګر مرګونه ئې

يو راز نه وو او مرضونه يې بېل وو، يوه دنورو وينې هم څکلی و ې او د ې ته محتاج وچه ډاکټران ئې له وجوده وينه وباسي ، بل ته چاخپله وينه نه رهپرې ايښې او بې وينې و ، يودافراط او بل دتفريط دلاسه مړ شو ، هغه چه فقير و او په فقرالقدم مړشو دهغه له مرګه دباختر اژانس هيڅ خبر نه شو ، ددې بلد مرګ اطلاع اخبارونو په ډېر تاسف اخيستې وه او دجرايدو مخو نه ئې په ما تم کښې نورشول.

دوی دواړه يوبادار اوبلامز دورو، څه موده پخوانيغلی بادار رنځورشو، ډاکټر دمزدو روينه درنځور په وجود کښې انجکشن کړه،دمزدورقوی وجود کمزوری شو اوبادار پهلزوخت کښې دهرراز خوراکونو پهزور او دعياشی پهوجه پهفشار خون مبتلا شو،

چيرته چهدغه شان بادری او مزدوری وی دغهشان کارونه کېږې او يوه په ځای دوه مری .

يو کمزوری کول اوبل قوی کول ددواړو پهمړينه تماميږي اودظالم اومظلوم عاقبت همدغه شان وی، مونږ داراز مرګونه طبيعی ګڼو مګر په حقيقت کښې قتل اومقاتله ده چه دوينو پورورته ويلی شو.

پادغسی مرګونو کښې هم قاتل اومقتول شته مګر زمونږپوليسان اوحاکمان پری نهخبريږی اوداسې معنوی قتلونه لهنورو نه دوی ډېر کوی .

دلته داعادت دی کهچا څوك پهټو پك وويشت يائې په چړو وواههپوښتنه ئې کيږی مګر که چا دچا ډوډی وخو ړه او هغه له لوږی مړشو دغسې قاتل ته سزانهور کوی، دغه راز مقتول تهڅوك شهيد هم نه وائی اونه څوك پری تبې تړی.

پهرښتيا چهمونږ ډېر ظاهر بين يواوحقايقوته نهيو ملتفت، زمونږ ډاکټران

هم مونږ غوندی دی او په دې نه پوهیږی چه اصلی مرض ظلم دی او حقیقی علاج عدالت دی.» الفت ور پسې لیکی «زمونږ په محیط کښې ډېر ځله ناحقې دعوې اورېدلی کیږی» لیکوال دخپلې وینا داثبات دپاره دغه لاندی واقعه راوړی:

«دیوچا غوایی دبل سړی په شوتلو کښې گډشو اودومره ئې وخوړې چه ور باندې ټنډ اوهلاك شو، دغویی څښتن دپټی په څښتن دعوه وکړه اودخپل غویی دتاوان غوښتنه ئی ورنه وکړه اودمدعا داثبات دپاره ئې دادلیل وړاندی کړ: که چیرې دپټی څښتن خپل پټی او خپلې شو تلې ساتلای زماغوایی به هلته نه ور تللو اونه به هلا کېده.

محکمې دده دعوه په ځای وګڼله اوددې په عوض چه دغویی دڅښتن نه د شوتلو تاوان واخلی اویائی عوض اومعاوضه کادپټی دڅښتن نه ئې دغویی تاوان واخیست اوملامت ئی کړ، زمونږ هوښیار ملت په داسې قصوښه پوهیږی، که څوك غواړی چه دغویی تاوان ورباندی رانه شی دهرڅه نه لومړی دی خپل پټی ښه ساتی».

ددغه مضمون نه (زمونږ حال) دوه مستقل مضمونونه جوړېدای شی اود دوی په مینځ کښی مناسبت ضعیف دی لومړی برخه ددوهمې برخی نه هم په موضوع او هم په لفظی بلاغت کښې لوړه اوښه ده (۱).

په ۱۹٤۹ کال کښې الفت دجلال آباد دخلکو لخوا دملی شورا د دو همې دورې دو کالت دپاره وټاکل شو، په دې دوره کښې دی دملی شورا د دو هم معین په حیث ومنل شو، سره ددې چه دده کارونه ډېروو بیاهم ده خپله علاقه دا دبی نړۍ سره ونه شلوله.

---

(۱) داسې معلومیږی چه ددوه جنازو واقعه اودغویی قصه دالفت لخوا په یوه مضمون کښی ځای شوې ده او د اکار دروسی لیکوال په طبیعت برابر نه دی، په وروستیو وختونو کښی ددوه جنازو واقعه ځانله هم چاپ شوی ده. (مترجم)

په۱۹۵۱ کال کښې دشخصی جرایدو دچاپ‌قانون مینځ ته‌راووت، الفتا جازه نامه واخیسته او اخبارئې د(ولس) په‌نامه چالان کړ.

مخالفت چه‌دمملکت په‌ټولو شخصی اخبارونو کښې ځای ونیودا کارې تاثیره پاتې نشو ه ولس په‌اخبارئې هم‌اغیزه وکړه. که‌څه‌هم هغه‌مقالې چه دلته په‌ولس کښې‌چاپېدلې دنورونه په روحیه کښې متفاوتې او ازې معتدلې وی‌خو د۱۹۵۳ کال دفروری په میاشت کښې ولس یووړو کی اثر (تاته وایم) چاپ کړ، ددې اثر تیز انتقادی آهنگ نه‌یوړای داچه په‌طبیعت برابر نه وبلکه اخبار په موقت ډول معطل شواو الفت‌دسخت عتاب لاندې‌راغی. ددې اثرلیکونکی چه‌خپل نوم‌ئې په(ا-ن) سره مخفف کړی‌ویوسړی‌ئې دځان‌دپاره مخاطب کړی‌وچه‌په‌حکومتی دوا یرو کښې ئې مهمه‌چوکی درلوده، دجر یدې دتړ لونه ورو سته الفت د یوې عریضی سره دصدراعظم والاحضرت شاه محمود حضورته ورغی او دده په اجازه اخبار بیرته چالان شومگر دڅه وخت نه‌وروسته نوموړی اخبار خپل مو جو دیت دلاس‌ځنی ورکړ.

الفت‌په ۱۹۵۲ کال کښې بیا دملی شورا دو کالت دپاره انتخاب شو (داځل انتخاب ئې‌دلغمان دخلکو لخواو) او د۱۹۵۶ کال په‌جون کښې دپښتو اکاډیمی (پښتو ټولنی) درئیس په حیث وټاکل شو.

په۱۹۵۷ کال کښې‌الفت دیو کلتو ری اوهنری هیئت‌په‌مشری شوروی اتحاد ته‌راغی، الفت پخپلو ویناگانواو خطابو کښې دشو روی اتحاد دلیدنی په و خت کښې اوهمداراز وروسته له‌هغې‌نه په کابل کښې، دافغانستان اوشور وی ددوستی اساس‌اوددواړو ملتونو په‌مینځ کښې دهمکاری موجودیت تائید کړی دی.

د۱۹۵۷ کال د نومبر په میاشت کښې کابل رادیو د اکتوبر د انقلاب د څلو یښتم تلین په مناسبت یو مخصوص پروګرام جوړ کړی ؤ په دغه پروګرام کښې الفت اشتراك کړی و او د شوروی اتحاد خلکو ته ئی په زړه پورې مبارکی ور کړه، د الفت د اثارو جریان چه ګورو ښکاره تحولات ور کښې مشاهده کیږی، دی په اوسنی وخت کښې د مملکت د پرولیو ادیبانو په سر کښې روان دی، د ده هغه اثار چه په ملی آهنګ لیکل شوی دی او هغه نثری اشعار چه په (څه لیکل یالیك پوهه) کښې راغلی دی د خلکو توجه یی د هر څه نه زیاته په بدیعی اوفنی خواوسره جلب کړی ده، د لته د لیکونکی ژبه ښکاره او واضحه ده او په عربی او نور و اقتباساتو ککړه نه ده .

واسعی

# د پښتو ادبی او شعری قاموس

## (٤)

دقاموس لغوی مواد:

آغلی : دا لغت دښاغلی، ښکلی، ښایسته په معنی پیر محمد کاکړ پخپل دیوان کښی راوړی او تعبیر په کوی مګر اوس په ژبه کی متروك دی او هیڅ څرك یی نه معلومیږی خو پیر محمد کاکړ پخپل دیوان کښی دستانه او مرشد او پیر په معنی هم راوړی دی او داسی یی راوړی لکه دخپلو نیکه ګانو یا کړند یو بزرګانو څخه چه مرسته غواړی لکه دده په دې بیت کښی:

حصار دمینی په لوی ګړنګ سوم

اوس را رسیږی خپلو آغلیو !

عبد القادر خان دخوشحال خان خټک زوی دښکلی او نازولی په معنی راوړی مګر په هر صورت دیوه غوره اوټاکلی او منتخب شی دپاره راځی په پټه خزانه کښی هم څو ځایه د (آغلی) کلمه راغلی ده لومړی پلا په (٥١) مخ کښی دښکار ندوی دقصیدی په دوو لسم بیت کښی:

له مړو خاورو یی آغلی ګل راویوست

وچ بید یا او غرئې کړ له ژړ ګلو نه

بل وار بیا دد غی قصیدې په (٣٥) بیت کښی: پښتو نخوا ښکلی زلمی چه زغلی هند ته

نو آغلی پیغلی کاندی اتهو نه

او در یم وار دشیخ تا یمن په یوه غزلی شعر کښی دا لغت راغلی اووا یی:

د څښتن پا ر د ی هیر می نکړ ی

آ غلیه ! مخ چه په یـا نـه کـړی

دا بابد هیره نکړو چه آغلی اوښاغلی دواړه دیوې ریښې څخه راغورځیدلی ی (۱)

دا کلمې دواړه دعامی محاوری اوعمومی تکلم لغات نه دی بلکه دهره حیثه ادبی اوشعری ثقا فتی او کلچری کلمات دی نوله دغه جهته موږ مجبوریو چه دآغلی په ضمن کښی دښا غلی کلمه هم د بحث او څیړ نی په رو ڼا کښی تریوی اندازی مطا لعه کو:

دالغت په دواړو بڼو (آغلی، ښاغلی) په اوسنی عمومی محاوره کښی لومړی قطعا نسته او دوهم د ۲۰، ۳۰ کالو را هیسته دژبی عصری کولو او انکشاف راسر بیره کړی دی اود پښتو په رسمی اوعا دی لیکنو کښی یی رواج اوځای مو ند لی دی او دفارسی دجناب، ګرام، اقا، یادعربی دمحترم، سید، یادا نګلیسی اوفرانسوی د مسټر، موسیو اودایټالوی دسنیور په معنی راځی خود ژبی په زاړه کلچر کښی دیوه متل او پښتنی مقو لی په ضمن کښی هم لید له کیږی لکه پښتانه چه وا ئی:

« پلا ر مې مه ښکنځه ښکنځلی پلا ر دی ښکنځم ها ښا غلی »

ددې مقولی څخه داسی معلومیږ ي چه ښاغلی لغت دپښتو په لغاتو کښې وار دسره اوله ابتداء څخه نه ؤ موجود بلکه دژبی په منځنی انکشافي دو ره کښی مینځ ته راغلی اوښه پوره رواج یی درلودخو وررسته تردغه تاوده رواج یوه پلا بیاد ژبی دمد ؤ جزر اودلغانو په نشیب ؤ فراز کښی دخپله بر مه لوېد لی ا و فی ا لجمله تر شا او تحت الشعاع واقع سوی دی یاداچه دالغت د ټولو پښتنو اجماعی لغت نه دی او په جمهورو پښتنو کښې نه ؤ رواج بلکه دیوې یادوو قبیلو لغت او یوه نا حیوی او

(۱)- د پیر محمد کاکړ پرد یوان دښا غلی بینوا په قلم لیکلی مقد مه .

منطقوی کلمه غوندی ده اودغه جهت دی چه غیر له خوشحال خان اودده د کورنی دنوروشعراؤ څخه دبل یوه په کلام کښې نه لیدل کیږی تر دې اندازی چه د عبدالرحمن مومند اوعبدالحمید ماشوخیل غوندی کسانو په کلام کښې چه دپښتو شعر پیغمبران بایدو ته وویل سي هم نه ده راغلی اوددوی په شعری دیوان کښی یی مثال چانه دی وړاندی کړی .

دادیره دتعجب خبره ده چه خوشحال خان اوعبدالرحمن مومنداوعبدالحمید ماشوخیل سره ددوی دشهرت اوسره دمعاصریت اوسره دوطنی ګاونډیتوبه یا په بل عبارت سره دقومی اومحیطی و حدته چه دخان سره ئې لری دالغت ددوی دروتنو ترمیانځ دونه متفاوت دی چه یوه خپل مال اومتاع ګرزولی دی اودوونوروڅان نه دی په خبر کړې اوداسی معلومیږی لکه ددوی دوو په ژوند کښې چه بیخی موجودنه ؤ مثلاخو شحال خان یی یووارنه بلکه په څو پلاراوړی اووایی:

موږ . طو طیا ن یو په بن ر ا غلی
ګلونه ګورو کښلی بناغلی

یا : چه بنه جمال لری هغه بنه خا لری
مخ دې بناغلی د ی خا ل ه ی بناغلی دی

یا : پارسی شعر می هم زده سلیقه لرم ددواړو
پښتو شعر می خوښ سو هر څوك خپل ګڼی بناغلي

یا : مړه هغه چه نه ئې نوم نه ئی نښان شته
تل تر تله په ژو ند و ن پا یی بنا غلی

دغه رنګه دده زوی عبدالقادر خان هم دا کلمه راوړی اوو ایی .

بد یم د ا نه و ا یم چه ر ه ښا غلی یم
په مر یی و ا لی د تا د ا غلی یم
مرګ می قبو ل دی شړ ل دی نه و ی
تښتی بنده یم د ر ته ر ا غلی یم

خو شخصاً زما خپله راء یه دهغو حا لانو او دورو نو او جریانو نو په روڼا کښې چه پردی لغت زما په فکر را غلی او ما ورته ترتیب کړی دی داده چه دښاغلی لغت په اوله وهله کښې چه په هر ډول د آغلې یا له بلې خوا څخه پیدا شوی وی وی به مګر یوه پلا خپل انتهائی عروج ته رسیدلی او په خپل زیږنتون یا تر هغه راد باندی یی په بل محیط کښی هم ښه رواج موندلی دی مګر د اوضاعو څخه داسی معلومیږی چه د عروج او ترویج ساحه یی په عین حال کښی محد وده وه او د استعمال لمن یی ډیره ارته نه وه.

دلغت زیږنتون او د ژوند ساحه:

زما په خپال ددې کلمی د نشوونما او محاوروې ؤ تکلمی ژوند ساحه هغه پښتانه قبایل وه چه د کوزك دغره په لمنو یاد هغه په شاؤخوا اولیری ؤنز دی کښی یی ټاټوبی کاوه لکه د ژوب کاکړ او د توبی اڅکز ی او د کوټی ؤ د پښین کاسیان او ترینان او د دوی نورګاونډ یان لکه بابړ یا ناقلین لکه پښینګی سادات ځکه چه دا پښتانه په دغه وخت کښی بلکه تر اوسه لا هم په یوه واحده جغرافی ساحه کښی پراته دې او دغرو سلسلی او سرونه ئی یو په بل پورې نښتی او د نژادی او کلتوری یووالی له جهته د یوه کورا و کهول حکم لری نو د دوی محاوره هم یوه او د ټو لو د ژبی لهجه سره مشترکه ده که څه تو پیر و لر ی هغه به ند ر تا صر ف د یوه لحن او خفیف صوت په شکل وی یعنی کم اساسی او مهم اختلاف نه دی مو جو د او په دوی ټو لو کښی دا لغت لکه پخواچه په دوی کښی د عروج مرتبی ته رسیدلی

ؤاوس ئی عروج صرف په وجود بدل سویدی اوبا لعکس دنورو پښتنو چه د یوه میلمه اودبلی سیمی دلغت په سترګه و ر ته ګو ری دوی ئی دخپل کوراودخپل ټاټوبی اودخپل نغری کلمه بولی

زما ددې تفصیلا تو په تقویه کښی زه خپل مشاهدات هم یوسند بو لم هغه دا چه زه د کچنی والی څخه ددغی سیمی دپښتنوارمهمو کسا و سره دخپل کورنی موقعیت اوفامیلی ایجابا تو په حکم محشو روم اوزموږ دمشرانو او لو یانو سره ددغو سیمو دهری سویی او طبقی و ګړو خپل روابط په ډیره مینه ساتله نو به‌ما په‌ډیر کښته عمر کښی دا کلمه دده‌ی څخه ډیره ارو ید له اوتر اوسه پور ی می دااز اتګه تر غوږ و کیږ ی چه ماته بی ئی لاهم دښاغلی خطاب کا و ه اوز یاتره به زاته ویل کیده(ته‌خوښاغلی هلك ئی)

دې‌لغت ادبی اوشعری ژوند:

دې‌لغت په هغه سیمه یابه خپل مسقط الر اء س د کوږك دغره په لمن کښی ژوند کاوه اوددغی محدودی سیمی څخه تر ډیرو کلو نو پورې دباندی و نه‌ؤت اوهلته شاوخوا ګرزیده‌ته هغه خود کوږك دغرو د وروستنیو سلسلوګانو اوسرونو په لمنو اوسرسبزواورشوګانو کښی دا کوړی پرختګود پښتو داد بی‌نبوغ لمرراو خوت اودخوشحال خان دشعراوشاعری روځې راورسیدی .

دخوشحال خان یوخصوصی امتیاز اواختصاصی تخصص دپښتو په ادباو او پخپل شعر اوشاعری کښې‌دادی چه‌دده ادب‌قبیلوی نه‌دی اودده کلام‌محیطی اومنطقوی انحصارنه‌نه دی‌خاضع‌دی‌لکه دخپل عصر دپښتنوچه مشراوخان‌دی‌دغسی‌دپښتو په‌ژبه اودپښتو په‌لغاتو اومحاوراتو کښې‌هم‌خانی چلوی‌اوخپل مشرتوب‌ساتی‌لکه‌هرپښتون چه‌دخان بولې هره‌لهجه اومحاوره هم‌خپله‌ګڼی داسی‌پښتو لهجه‌اولغت داسی سیمه

اومنطقه په پښتونخوا او پښتانه مملکت کښې نسته چه ده نه وی ژوندې کړی او په پخپل کلام او شاعرانه احتیاجاتو کښې ئې کار نه وی ځینی اخیستی .

ددې خبری شاهد دغه دښاغلی کلمه ده چه دالغت دجوړاب اوساختمان دنقطهٔ نظره دخان دنزدې سیمی اودده دټاټو بځی لغت نه دی مگرده دخپل پښتو شمول ادب اوغیر محصوری او نامحدودی افادې په رشه اوعادت اخیستی دی - په داسی حال کښې چه دده معاصرینو یاترده وروسته ددیوانونو څښتنانو هیڅ نه دی راوړی اودا لغت نه دی وررسید لی .

نواوس داخبره یقینی او واقعیت دی چه د(ښاغلی) لغت اصلا د پښتنو اجماعی اوجمهوری لغت نه دی او پښتون شموله کلمه نه ورته ویله کیږی. داځکه که ټولو پښتنوته دا کلمه ورمعلومه وای یا په ټوله پښتونخوایائی په زیاترو سیمو کښې رواج درلودای نو به ولی په یوه واحد قرن اود(۵۰) کالو په عده کښې یوه سړی اخستلای او په هغه قرن کښې به دده داړخه سره نوردده غوندی د کلام اودیوان څښتنان په خبر لاهم نه وای . نومعلوم چه دالغت دهغی خوانه واو نه هغه چاپیر او هغه ماحول زیږولی ؤ او نه ئی روزلی ؤ دالغت چه مامطالعه کړی او تریوی اندازې می په پښتو دیوانو اومنثورو اثارو کښې څارلی دی غیرله خوشحال خان څخه د کوږک په دې سر کښې اوغیرله پیرمحمد کاکړ څخه په هغه سر کښې بل کم شاعر ندی راوړی تر پیر محمد کاکړ د مخه چه موږ د کوږک دغره لمنی اوارشوګانی د کندهار ترحوضی پوری و څارو موږته دالغت څوک نه راښیی او په کم دیوان یا لیکنه کښې په مخه نه راځی. نو اوس بله خبره غیرله دې نه ده پاته چه دالغت منطقوی لغت دی او که کمې بلی سیمی ته تللی وی نوترلاس نیولی یاوړل سوی دی.

ښه! بری پښتونخواته خوخوشحال خان دخپل پښتو شمول عادت په هڅه یووړ

ازپه خپل کلام کښی یی وساته مګر دې بلی سیمی لری پښتونخوا (کندهار) ته څه وخت اوچا راووړ؟

زه وایم دې خواته دالغت پیرمحمد کاکړ راوړی اودده د کلام یامحاوری په مرسته ژوندی او محفوظ پاته سوی دی داځکه چه تر ده دمخه خود پښتو محفظه او ددې سیمی لغوی او ادبي ذخیره پټه خزانه ده تر پټه خزانه دمخه خو بیا هغه شعرادی چه پټی خزانې راوړې او ددوی د کلام نمونی ئې رانقل کړی دی په هغو ټولو کښی دا کلمه نه نثراً سته او نه نظماً راغلی ده مګر بلی خوانه چه ګورو تر پیرمحمد کاکړ وروسته د کندهار په سیمه کښی په یوه پلادا کلمه خپریږی په محاوره اوخبرو په کلام او تحریر مخصوصا په شعر او ادب په کلچر او ثقافت کښی ځای پیدا کوی.

پیرمحمد کاکړ خودږوب د کوږك دغره دلمنې څخه چه ددې لغت مسقط الرأس که ثابت نسی دروزنی اوژوند ځای خویی دی کندهار ته راغی اوسمدسنی یی دسلطنتی دربار سره علایق وموندل داعلیحضرت احمدشاه بابا دزوی شهزاده سلیمان استاد اومعلم مقرر سو. دی په عین حال کښی دپښتوژبی اوادب رسمی او درباری فرداویو مهم نما یده ؤولی؟

یو سړی چه دیوې خوادپادشاه په نزدې حاشیه کښی مهم ځای لری اوله بلی خوا ادیب او په درباری اورسمی ژبه کښی شاعر او دیوان څښتن وی څنګه به ممکنه وی چه دهغه شعری کلام به ترویج نه مومی اودلغاتو او افاداتو به یی عمومیت نه په برخه کیږی او نور شعرا اود کلام څښتنان به یی تتبع او تقلید نکوی.

(نوربیا)

عبدالر و ف مخلص

## (دهوا باز ته)

ماد هوا با ز ته پیغو ر و ر کا و ه  چه زه نر تا لو ړ صفتو نه لر م
ستا که فضا او آ ز ا د ی خو ښه د ه  زه هم د فکر و ز ر و نه لر م
نن او پر ون مې طیا ر ې جوړې کړ ې  ځم دهو ا په لو ر مز لونه لر م
پاس له آ سما نه یم خبر له ځمکې  بېسیم ا لی لر م مو جو نه لرم
ا ټم نړ ی و ر ا نو ی ماجوړ کړی  دخر ا بی قوی لا سو نه لر م
دخا رجی فضا تسخیر مې خیا ل د ی  په مخ کښې لوی لوی پلانو نه لرم
ته د یو ځایه تر بل ځا یه در وه ی  زه تر تا لوی لوی پرو ازونه لرم
څه چه کوم هغه کو لا ی شمه  آزاد خوزه آزاد فکر ونه لر م
بازه دا ټو له چه د ی واو ر پد له  په غوږ و د غه د ا نسان قصه د ه
ا نسا ن پخپله د غه ما و بو له  دازما دځان داز ماد شان قصه ده

(دبازجواب)

با ز چه د ازما خبر ې و اورپد لی  توهین امیزئی راته و کړ ه خند ا
دحا ل له ژ بی څخه د ا پو هیدم  چه راښئی و ضعه د ټو لی د نیا
نو ر ا ته و ی و یل چه ښه ا نسا نه  ا نسا ینت که و ی پد غه معنا
چه یو دبل سره ومر گ ته ناست یاست  یامود اخو ښه چه تباه کړی د نیا
له لاسه ستاسو مرغان ند ی آ ر ام  ځکه مسمومه مو کړه گرده فضا

دبشر قتل ته الې جوړ وی ء بیاهم وځان ته وایاست پوه اودانا
انسان خدمت ته د بشر خلق دی بشر ته جوړه تا په لاس کړه بلا
له آباد و نه ویرنې جوړ وې ډېر دافسوس ځای دی دې فکر ته ستا
ما چه دا حال دا نسانا نو ولید ښه دی چه یم له انسانا نو جلا
دا کښته ځمکه تا سبما له کړ له چه اوس پرواز کړی د آسمان په لوری
سر که در کښته خپل گریوان و گوره یو وار و گوره د خپل ځان په لوری
لکه د گور چنجی یو بل سره خوری ء دغه چندان انسانیت خو نه دی
خطا ایستو ته یو دبل هڅه کړی ورور غوزارول څه سعادت خو نه دی
خطر ته هر یو په هوا غوږ و نه سړی و ژل مدنیت خو نه دی
چه داساړه ساړه جنگو نه گورم شر دی وام دغه امنیت خو نه دی
توپ طیاری دی ظلم وزور د پاره داخو جوړ جبر دی خدمت خو نه دی
تخنیک کومک ته د سړو خدمت کړی څه یو اسباب د هلاکت خو نه دی
صفت د ژوند سو یه سخته بیول داخو تخریب بوله صفت خو نه دی
چه یو انسان دبل انسان غو ښه خوری دا نسانا نو دا خاصیت خو نه دی
مگر له تا انسانه ورانه شو له کنه ژوند دغه کیفیت خو نه دی
نو که رشتیا د ژوندون خیال ولری شاید چه صلح امنیت قائم کړی
بشر ته وکې یو خدمت دغسې چه پر نړی مدنیت قائم کړی

عبد الله بختانی

# درحمان باباقومي افکار

(۲)

عزیزولی:

له پردونه‌دورور-اوعزیز دزوی اونمسی په فرق‌قایل دی‌خوهغوی چه بد کار شی بیایې بدبولی :

ورك‌شه‌ورك شه‌بد کرد اروبد سړی
که دې ورور که دې‌عزیزوی که‌پردی
تر هغه لا نیکو کار بیګا نه ښه دی
چه بد کار شی د چا زوی او یا نمسی

دقرابت سلسله په‌ژوند کښې مهمه بولی نه‌پس له مرګه :

چه یې خاورې شی دخاوروسره ګډې
تر ودچا زده چه‌د کوم نیکه نمسی‌دی

په‌دې ټکی چه ورور عزیز اواولاد هریو خپله‌مدعا کوی انتقا دلری :

که‌مې‌ورور که مې‌عزیز که مې‌فرزنددی
واړه غواړی خپله خپله مدعا

دنفسی‌خواهشاتواواغراضوپه‌سبب‌اشنااوعزیزته‌خجالته‌اومختورن کیدل‌داسی‌غندی:

تمام عمر ترا شنا تر عزیز پوری
یوې ګیدی مختورن کړې هم رسوا

او دښوپه مقابل کښې بددوروری اوعزیزولی نه بهر ګڼی :

داکوم رنګ داشنایی اوورور لی دی

چه زه ستا د مخ ثنا کړم ته می زوري

دی دورور اوعزیز دازاروا و په مقابل کښې دخپلې مدعااوغرض حاصلول نه غواړی:

چه د ورور او دعزیز پری زړه ازار شی

حاصل مه شه هغه خپله مدعا

دهغو خلکو حال چه اشنایی رقیب شی دهغو سره ورته بولی چه په وطن کښې غریب شی یعنې خلك یې مسافر اوپردی او خوارو ګڼی :

چه خپل یارد چارقیب شی مثال دادی

لکه څوك چه په وطن کښې شی غریب

چه غریب شی په وطن کښې فرق یې نشته

چه فرسنګ یې وی ترمیانه که جریب

ده ته بیلتانه خپل وطن (پېښور) تنور کړی واوله خیبر نه تراټکه پورې یې فریاد کړی دی:

بیلتانه یې پېښور را ته تنور کړ

له خیبره تراټکه الغیاث

سربېره پردې دظالمو حاکمانو له لاسه خپل وطن ورته ګور اوا ور ښکاری :

په سبب دظالمانو حاکمانو

ګور واور وپېښور ددې واړه یودی

څوك چه له وطنه اوزې هغه بی واکه او بې اختیاره معرفی کوی :

چه استو ګنه په بردی وطن کښې کاندی

هغه نه لری دهېڅ واك و اختیار

چه له خپله کوره وزی مسافر شی
څوك یی پیژنی ساهودی که مریی دی

خپله خونه د ډهلی له تخت سره مقایسه کوی :

اورنګ زیب که د ډهلی په تخت نازېږي
خپله خونه هر ګدای لره ډهلی دی

د خپلی وطن نه وتل اسارت ګڼی:

په امید د زلفو و نښتم په دام کښې
رو هیلی وم ساده دل په هند وبار ګډ

په خپل کتاب افتخار کوی او دغه افتخار خپل قوم او وطن ته بخښی :

یو کتاب په سړه بن کښې چاو نه کړ
بی رحمانه چه یی و کړ دا کتاب

هغو کسانو ته چه دده په چمن ګستاخی کوی ښېرا کوی :

چه زما په چمن راشی ګستاخی کړی
د شبنم په څېر یې عمر یو زمان کړې

او د خپلو اشعارو په باب کښې دعا کوی چه هره مصراع یې د خوبانو زلفې شی او بیا په هغه « د افغانانو کشور » معطر شی او په دې صورت خپله وطندوستی ثابتوی:

چه کشور دا فغانان پرې معطر شی
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

خپلې محبوبې ته دعا کوی چه خدای دې له هری پریشانی څخه وساته!
ځکه چه ته زما د کور او کلی ودانی یې :

خدای دې وژغوره له هرې پریشانی
اې زما د کورو کلی و دانی

په دې بیت کښې د محبوب محبت دوطن په محبت کښې نغاړی. او که دا بیت معشوقی ته خطاب نه وی نو دعا (د کورو کلی دو دانی) په باره کښی ده چه دغه ودانی خدای له هرې پریشانی نه وساتی. رحمان بابا دژوند انه یون دابا سیند له غورزنګو سره تشبیه کوی ـ ابا سیند دده دوطن مشهور سیند دی ـ دی وایی:

لکه سیند دابا سیند په غورزی درومی
هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر

همت او جرأت:

دغم سره مقابله دغزا سره تشبیه کوی او مذهبی او ملی ذهنیت د (غزا) په کلمه کښې تمثیلوی، ځکه چه غزا هم توره او شجاعت دی چه د املی جنبه لری او هم اسلامی فرض اود ثواب کار دی:

هره ورځ چه مې تیر یزی ستا په غم کښې
زه په هره ورځ پوهېږم چه غزا کړم

دعشق په ټره توره دصبر او سکون په ملك یرغل کوی اود توري د بر ېښ په رڼا کښې فعال حرکت د عشق نتیجه بولی:

عاشقی به تېره تو ره در په لاس کا
نور دصبر و دسکون په ملك به هو کړې

پېغور:

پښتانه پېغور به ګڼی ـ دی، یې هم اور بولی خو په عشق کښې ترې ډډه نه کوی:

زه عار نه لرم په عشق کښې له پېغوره
بې پروا یم د ستی په څېر له اوره

نور و ته پېغور ور کوی چه دو ړاند ینیو نه خو څه کم نه یا ست پا څیږ ی ء همت و کړ ی ء ! :

وړ اند ینی هم واړه ستا په څېر سړی وو
ته هم پا څه د هغو په څېر همت کړه

په پښتنی جا معه کښې دغه رنګه پېغورونه ډېر زیات اثر لری او رحمان بابا هم دخپل قوم دبید ار ی د پاره په دې لاره کښې هم برخه لری .

**میړانه:**

رحمان بابا هم د نور و پښتنو شاعرانو په شان د میړنتو ب صفت ښه ګڼی او د ده په نظر کښې ښه میړا نه دا ده چه سړ ی حرا م خورنه و ی او بل ا زا ر نه کړ ی :

حرام خورد مخنثو په حساب د ی
که په توره یا په تیغ وی مړ نـی
مړنی و یلی بو یه وهغـــه تـــه
چه بې و جهې ازارنه کا هیڅ سړی

په ورو ستی بیت کښې د « بې وجهې » په عبا رت کښې دا توجیه کید لی شی چه « په وجهه » د بل ازارول جا یز لا څه چه میړ نتوب او پښتو ده .

**جرګه :**

جر ګه د پښتنوالی یو ژوندی دوددی ـ رحمان با با د هغه حسن ستا ینه کوی چه د عا شقا نو جر ګه پرې پنډ ه وی :

زه رحمان دهغه حسن ثناخوان یم
چه جر ګه دعا شقانو وی پرې پنډه

**سربازی او ایثار:**

په سر لوبې کول د پښتانه د ژوند لو به ده ـ رحمان بابا په عاشقی کښې په سر سودا کوی:

چه له تا سره په سر کاندی سودا
بل به نه وی هسې ما غوندې شیدا

او د خپلې غاړې خلاصیدل په دې کښې ګڼی چه دعشق په تیغ شهیدشی:

چه دستادعاشقی په تیغ شهیدشی
درحمان غاړه به هله شی ادا

شهیدیدل او دغاړې خلاصیدل ـ ډېر ښه ادبی تلازم دی.

رحمان بابا د سر ښندلو په مکافات کښې جنت نه غواړی او په هغوزاهدانو چه د یوجنت د پاره زهد کوی پسخندوهی:

ځکه زاهد زهد کادیوجنت دپاره
سر ښندلی نه شی په اور بل دجانانه

غیرت:

کله چه رحمان بابا یارداغیار وپه سیمه کښې ګوری نو له غیرته دلیمو نه ئې وینې څاڅی:

چه مې یار ولید په سیمه داغیار ګډ
له غیرته مې لیمه شو په خو نبار ګډ

دی له هغو ناصحانو څخه چه ده ته نصیحت کوی پټ ګر ځی ـ ځکه چه له هغو سره مقابله هم اخلاقاً ښه نه ګڼی او له خپله هوډه تیرېدل هم ور ته بی غیرتی ښکاری:

پټ پټ ګر ځم د ناصح له نصیحته راته کاندی نصیحت په څو صورته

چه‌تو به کړه د خو بانو له قر بته هیڅ جواب یې په‌مانه شی له غیرته
در مانده ورته ولاړیم لاجوابه

آزادی :

درحمان بابا یو بیت په اول نظر د آزادۍ سره ضد ښکاری:

له او له بند ګی بیا ازا دی ده
که‌مقصو د د آزادۍ لرې غلام شه

که سړ ی درحما ن بابا په فلسفه او افکار و کښی ننو زی نو پو هیږی چه دی وایی چه اول دالله بندګی اوورپسی دماسوی‌الله نه آزادی ده ـ چه‌په دې بیت کښې د مقصود . کلمه همد غه رنګه ازا دۍ پو رې مر بوط ده . او که نه‌ده خود دنیا دعرف اوعادت‌اوتعلقاتو نه‌ځان آزاد کړی دی:

دریا خرقه یې مه کړه خدای تر غاړه
رحما ن کو ز پټکې تړ لی قلندر دی

ده‌آزادی نه‌رسیدل غایه ـ هدف‌اومهم کار بللی اود هغې دحصول دپاره‌دنورو کارونو څخه لاس ایستل‌غو اړی :

آزا دی او کارو بار دی سره لیـری
لاس‌له کاروباره و کاږه که کار کړې

رحمان بابا دیو آزادی غوښتونکی په حیث‌د آ زادۍ‌په‌طلب ګرځی ـ په ژوند کښې ایکی‌یوازې یوقید اویوزنځیر یعنی دعشق قیداودتوروزلفوزنځیر منی‌او بس:

زه‌ر حمان د آزا دۍ په طلب ګر ځم
بارې نه د تو رو ز لفو له ز نځیره

**درحمان‌بابا شاعری‌او دنورو پښتنو شاعرانو یاد:**

رحمان بابا دیواخلاقی رهبر په حیث داخلاقی انحرافا تو څخه ډډه کوی اوپه عین حال کښې خپل پښتنی انسانی قوت اوشجاعت هم‌ښیی.

په اشعار کښې قوتناك لکه زمری یم
ولی نه یم د زمری په څیر ګزند

بل ته ټیټا ل اوخو شا مندی اودبل سپکو ل د پښتانه له شانه سره نه ښا یی رحمان باباهم داسی وایی:

هم په مدحه هم په هجوه ښه پوهیږم
ولی نه یمه په دې چا ر و خور سند

دی په پوه دعائیه کښې دخپلوا شعارو په باب کښې وایی:

چه زما په چمن راشی ګستاخی کړی — دشبنم په څیر یې عمر یوز ما ن کړې
چه از اده دمنکر تر سره پر یو زی — دفلك په څیر مې توره دزبان کړې
هغه غشی چه د تر کو د غمز و دی — هر کلام مې دهغه غشی پیکان کړې
چه «کشورد افغا نان» پر ې معط رشی — دهر بیت مصراع مې زلفې دخوبان کړې

رحمان بابا پخپلو اشعارو کښې ځینې پښتانه شاعرا ن هم یاد کړ ی دی۔ دخوشحال خان له اشعاروسره دخپلو اشعارو مقایسه داسې ښیی:

که یې شعر درحما ن مهمند ترغو ږ شی
غوږ به نه باسی په شعر دخوشحا ل څو ك

په بل ځای کښې وایی:

یو خوشحال او یو کم سل خټکه نور په طبیعت کښې
ځا ر شه د ر حما ن سړه بنی له یوه فر ده

خوشحال اودولت داسې یادوی:

خوشحالا اودولتا مې غلامان دی
زه رحما ن په پښتو ژبه عالمګیر یم

دشاعرا نو قدردان د «میرزا» او «ارزا نی» دادبی دعوودپرې کولو ذمه واری کوی:

دمرزا اوارزانی دعوي به پرې کا
قدردان د شاعرانو رحمان راغی

فکلور:

درحمان بابا په اشعارو کښې د پښتنی فکلور ـ محاورو ـ متلونو اوا فسانو اثر هم ښکاری مثلاً «ترورخ تیري اوبیرته نه جاروځی» مشهور متل دی چه درحمان بابا په دې بیت کښې راغلی دی:

ترورخ تیري اوبه بیرته نه جاروځی
نه جارو وځی تېر ساعت په بیرته بیـا

همدارنګه د پښتو اولسی قیصو اوافسانو ته یې هم اشاري کړی دی.

«دادم خان اودرخانی» د مشهورې کیسې یوې مهمې برخې ته داسې اشاره کوی:

درخانی په سل غمو نو خدای اخته کړه
زه به ولی له تا زارکوم که ګوری

اوخپله مینه یې دادم خان اودرخانی ترمینی زیاته بللی ده:

زما ستا و نندا رو ته به حیران وو
که ژوندی وای ادم خان او درخانی

په یوه بله قصیده کښې یې د «ګل خان او جمال خان» د افسانې لنډیز بیان کړی دی د کیسی په جریان یې تبصره او انتقاد کړی دی ـ اودانسان پرهغو ظلمونو یې چه په انسان یې کوی ژړلی دی او بیا یې د مغولی پادشاه (شاه عالم) ظلمو نو او د دارا او اورنګ زیب مخالفتونو ته یې ګریز کړی دی او په دې ترڅ کښې د مغولی پادشاهانو له کارونو او د هغوی د عصر له سیاسی جریانونو سره یې خپل مخالفت څرګند کړی دی او په کایناتو کښې د آکل او ماکول او تنازع للبقاء عملیات بیان کړی او بیا یې خپل عارفانه مسلك ته مراجعه کړی ده هغه قصیده داده:

ډېر یاران وو دګل خان و جمال خان — په کار نه شو یو په وخت دزارستان
دهمه واړو یارانو مخ دې تو رشی — که به څوك وبله یاری کا په داشان
چه یو یار په سوری پروت وی بل په اور کښې — وهغو ته به څوك څه وایی یاران
هیڅ تعریف مې په د اژبه وایه نه شی — صد رحمت شه په یاری د ګل خان
تر داهور ته د یاری شرطو نه څه دی — چه په اور کښی دواړه و سوزی یکسان
چه له آله، له اولاده سره وسول — خدای دی نه کا څوك داهسې مظلومان
چه په اور کښی یو دبل دپاره سوزی — مالید لی نه وو هسې مخلصان
څه رنګ شوخ و هغه اور د هغه خلق — چه یې مړ نه کړ داو ښکو په باران
الغیاث دی الغیاث دی الغیاث دی — چه انسان کا هسی ظلم په انسان
دنمرود چاری مې ولیدی په ستر ګو — چه یې اچول و اور ته نبیان
هم دې ځمکی هم آسمان ته تعجب کړم — چه نه ځمکه په نار وشوه نه آسمان
هم دی لویو لویو غرونو ته حیران یم — چه او نه لوښته له ویخه سر غلطان
له دې خپله سپیه نفسه مې زړه بدشو — چه او به څکی یا خواړه خوری په جهان
عالم وایی چه قیامت به په جمعه وی — ولیدما په یکشنبه په دادوران
هزار حیف دی چه داهسې رنګه چارې — واقع کېږی د دنیا په سود و زیان
په عیسی و په دجال کښې ګناه نشته — دا مکرو نه دی د نفس و د شیطان
عزیزان یی ځبله و وژل پخپله — دا همه واړه تقدیر دی د سبحان
هسې نه چه دایی و کړه نور به نه کړی — چه یی زړه شی هغه کاندی پادشاهان
شاه عالم اعظم و ګوره چه سخا کړ — په خو نو نو واړه ملك دهندوستان
ودارا واورنګ زیب و ته حیران یم — چه یې څه چاری واقع شولې تر میان
دحسن حسین غزادی څوك په زړه کا — چه همه واړه په تیغ شو شهیدان

ددوی غو ښې او ښوو ینو رغړ ولی بی حسابه هسی خلق شه طوفان
هرچه اهل ددنیادی حال یی دادی کهسړی دی که پیری دی که حیوان
ادم زاد په ځمکه یو بل سره وژنی په دریاب کښې وبله غوښی خوری ماهیان
لکه غوښې چه ماهیان خوری په دریاب کښې په هوا کښې همدغه کاندی مرغان
خزنده و پرنده دی د دې د هر همه واړه یو تر بل مشت وګریبان
مرداری د دې د نیا خو همدغه ده ځکه بیرته ځنی ګرځی درویشان

مکاری دزمانې څه هو مره نه ده
چه رحمان بې چاته وکاندی بیان

**د مغولی پاد شاهانو یاد :**

درحمان بابا عصر په هند کښې د مغولی پادشاهانو دامپرا تورې دوره وه په دغه وخت کښې دسلطنت په مقام دوی پخپلو کښې هم سره ټکری او تصادمونه کړی دی او په هند کښې یی خونریزی او بحرانونه پیدا کړی وو په عین حال کښې دپښتنو دازادی نهضت اود مغلو سره د هغو مبارزه هم درحمان بابا د عصر څخه دمخه شروع شوې ده او په دغه وخت په پښتنو کښې دمغلو په مقابل کښې یو عام نفرت موجود و مونږ دد غوو اقعاتو انعکاس درحمان بابا په اشعارو کښې و ینوچه ده پخپل طرز ښکاره کړی دی دشاه عالم خونریزی اوددارا اوورنګ زیب مخالفت په تیره قصیده کښې څرګندشوی دی اوس به درحمان بابا داسې نور اشعار مطالعه کړو دیوفقیر په حیث د اورنګ زیب اوشاهجهان اشرافیت دیوفقیر ند اف نه ځاروی :

اورنګ زیب اوشاهجهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې ند اف

په دې بیت کښې د «اشراف» کلمه که په اصلی او واقعی مفهوم وی نودی یې

د «نداف» نه ځار وی او کید ای شی چه دا کلمه دطنز او تحقیر دپاره هم وی.
که اورنګ زیب دډیلی په تخت ناز یږی ده ته خپله خونه ډیلی ښکاری:

او رنګ زیب که دډیلی په تخت نازیږی
خپله خونه هر ګدای لره ډیلی دی

او کله چه دیو عاشق په څېر معشوق یې تر څنګ کښینی نو اورنګ دځان غلام بولی:

چه د څنګه مې ددلبر په لاس کښې جام دی
نن او رنګ دزما نې زما غلام دی

خپلې معشوقې ته وایی چه که پلوله مخه لیری کړې نو اورنګ به دې ملنګ شی:

ته پلوله مخه وا خله زه ضامن یم
که اورنګ دزمانی قلندر نه کړې

اورنګ زیب دتخت وتاج په بې ثباتی تهدید وی:

اورنګ زیب چه ارایش دتخت وتاج کا
تخت وتاج به یې مرګی تاخت وتاراج کا

او یو ګدا دقناعت په برکت داورنګ زیب په تخت کښینوی:

موږ به نه شې ته په حرص بې قناعته
اې په تخت داورنګ زیب ناسته ګدایه

ددارا او شاهجهان دنام ونښان دعوی تردید وی:

که غلبیل کړم دتمامې دنیا خاوره بیا به نه مومم دارا او شاهجهان
بوی دنام ودنښان یی پاته نه شه چهٔ دعوې یی کړه دنام ودنښان

په دې باندې چه اورنګ زیب اول دفقر په لباس کښی ځان ښودلی او داقتدار په

وخت یې تر هر چا دمخه پخپلو وروڼو ظلم کړی دی او بیا یې په مکر او فریب نور ملکونه: هند او کابل او پیښور یې نیولی، رحمان بابا یو اوږد نظم لری:

اورنګ زیب هم یو فقیرو — چه ټوپی یې وه په سر
ټوپی وته یې شا کړه — چه قادر شه په افسر
خوی یې هو مره فقیری وه — چه څه نه وو میسر
چه فلک یې یاری وکړه — نور یې ملک کړ مسخر
ګوره څه چاری یې وکړی — په عیال د خپل پدر
وار په وار یې تر تیغ تیر کړ — د خورم تمام ټبر
یو ټبر د خورم څه وو — ډېر عالم یې کړ ډبر
تمامی جهان یې ونغړد — چه یې لاس شو باندې بر
په فریب فریب یې خپل کړ — بیجا پور او بهان ګر
بیجا پور او بهان ګر څه وو — لا چینجا و چینجاور
هم یې هند په ډکه وا خست — هم کابل و پیښاور
بیا یې ذکر شو په زړه کښې — پادشاهی د هفت کشور
له حرصه ورته هیڅ شو — هم دارا هم سکندر
خیال یې داو په خاطر کښې — چه به خپل کړم بحر و بر

تر دې ځایه پورې یې دا ورنګ زیب د ژوندانه کارونه بیان کړی دی او د هغه په حرص، خونریزی او مکر و فریب باندې لګیدلی دی اوس یې مرګ او نتایج ښیی:

باري ورځ ور ځنی ولاړه — وقت پرې راغی ماز پګر
نه یې مراد د زړه حاصل شو — نه یې یخ کړ خپل ټټر
همګی شو ځنی پاته — که یې ملک و که لښکر

خالي لاس له دنيا ووت لکه عين د رويز ګر
له دنيا يې هيڅ يو نه وړه مګر شو يې يو څادر
خوار حيران په ځمکه پر ېوت بې بالين و بې بستر
نه پوزی شه ترې دلاندی نه ترې لاندی شه ټغر
د بڼی په څير خفيف شه چه ثقيل و لکه غر
دسيلاب په مخ کښی ولاړ شه لکه خس وی يا وزر
حق يې پاته په ګردن شه د سپاهی و د چاکر

تردې انتقاد وروسته رحمان بابا ديو مسلمان په حيث (لاتذکروا موتاکم الا بالخير) سره سم ورته دعا کوی:

اوس يې زه په روح دعا کړم که يې خدای کا بهره ور
حق تعالی که يې نصيب کا غه شيرين حوض کوثر
دجنت په خوشبويی يې خدای دماغ کړه معطر
په درست هند باندې يې حق و هند يو شپه وه دی و نمر
د دې نمر په روښنايی تمام هند و منور
په رڼا يې خلکو زيست کړ نه څه خوف و نه خطر

وروسته بيا په راتلونکو حالاتو تبصره کوی او اندېښنه ښيی:

خو چه مخ يې په غروب کړ نور پيدا شه شور و شر
چه په نوم د اورنګ زيب و و خوړ ګاو هغه دفتر
اوس نوبت د شاه عالم دی دور طور شه دګر
خدای زده څه بازی شي پيښه عاشورا شي که اختر

د قام په حال ژړل :

رحمان بابا دخپل صوفی توب سره هم دقام حال اوژوند ته متوجه شوی دی اود ژوند انه په ورځنیو مشکلا تو یې ژړلی دی.

دده له یوه نظمه ښکاری چه دده قوم په داسی سیمه کښې اوسیده چه هلته داوبو قلت و او د هقانا نواو زمیندارانو ته یې ډېره خوا ری ورپه غاړه وه او په ډېرو مشکلا تو اخته وو، ده دغه حال تر سیم کړی دی اود زړه له تا وه یې په وچه میره کښې داو ښکو باران ور ولی دی:

هر چه کښت یې په باران او په سیلاب وی
د هغو عمر به واړه په عذاب وی

هغه ملك چه پکښې سیند ورود بار نه وی — د هقانان به یی همه خانه خراب وی
و اسمان ته به یې سترګې وی ختلی — د باران له انتظاره به بې خواب وی
لکه څوك چه کړوی یې په کړهی کښی — د هغه ماهی په طور به کباب وی
لا به کله بارانو نه پرې نزول شی — چه نخیل و زراعت یې په سیراب وی
همیشه له خدایه خواست داوبو کاندی — که یې چیری خواست په عمر مستجاب وی
لکه تل چه یې به زوږ د اوبو غوږ وی — هومره غوږ یی نه په چنګ نه په رباب وی
که همه عمر باران ورباندې و وری — لاګرمی یې په صورت کښې دافتاب وی
دګرمی او د خشکی له دهشته — دافتاب په څیر ګمان یې په ماهتاب وی
فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کړی — که او به یې ګډې وډې په پیشاب وی
داوبو په غلا چه ورشی نه جاروو زی — که ساکن دخانقاه او دمحراب وی
داوبو په ویش چه ورشی انصاف نه کا — که په لاس یې ورقو نه د کتاب وی
داوبو ثواب یې نه کېږی له لاسه — که په ګوټ اوبو یې عین دحج ثواب وی

دباران امیدیې نه کېږ ی له خدا یه — که یې شپه روځ په سر باندې سحاب وی

پلیتی به یې له تنه څه رنګ د رو می — چه او به پکښې نایا بې تر ګلا ب وی

هیڅ مې مه پوښته له غسله له اود سه — چه یو څاڅکی پرې ګوهر غوندې نایاب وی

په سبب د ډ ېر ه ډ ېر ه تیممه — همیشه یې سپیره زیره په تراب وی

دللمی سړی په مخ کښې وی آب چیری — هغه خلك چه بی آب وی خو بی آب وی

په ابی کښې لاهم وی خونه و یر انه — هغه کلی چه د بل کلی پا یناب و ی

سم حساب له عز یز انو کله مو می — تل تر تله یې د بل لا ندې حسا ب و ی

دلته د دغسی خلکو حالات د پښتنو د روحیاتو له مخه څرګندوی .

نه طا قت د بد و یل لر ی نه صبر — لکه مار په ملاوهلی پیچ و تا ب و ی

نه یی مرګ نه یې فتنه له لاسه کېږ ی — لاس تړلی د خپل شرم په طنا ب و ی

چه یې زیست یا یی روز ګار په تحمل شی — همیشه یې له بدی ا جتناب و ی (۱)

که یوه بده وینا یې د خولې وو ز ی — هغه دم یې په خپل ځان باندې عتاب وی

هسې شان سړی تیری ور باندې و کړی — چه په عمر نه د سوال نه د ځواب وی (۱)

---

(۱) د حافظ وجیه الدین په قلم لیکل شوی نسخه کښی چه په (۱۲۱۰ ه) کال کښی یی لیکلی ده پورتنی بیت داسی ضبط دی :

چه یی زیست روزګار په کار وی تحمل کا

همیشه یې له بدی اجتنا ب وی ( ب )

همسا به بې چر یکار و پښتا نه شی  او په اصل به مو چی یا به قصاب وی (۲)
ملایم ویل اثر ور باندې نه کړی  چه په زړه کښې یی نه شرم نه حجاب وی (۳)
لکه دیووی د سړ یو په صورت شی  ته ګمان کړی چه سړی دی دی دواب وی
په هیڅ رنګ له بده خو یه نه جاروو ځی  هسی مست دجا هلی په شراب وی
چه اشراف دهسی خرسو پلاس کښیوزی  ترو خلاصی به یې له خو نه په کوم باب وی (٤)

په پورتنی ابیت کښی دپښتنولی داروحیه یې ښه څرګنده کړې ده چه پښتانه په خپل حق باندې هم ځان وژنی او هم بل ورپسی دغه مشکل ژوند چه دبې ابی سره ملګری دی غندلی دی او دخپل قوم داارزویې څرګنده کړې ده چه له دغه له غمه ډک ژوند څخه مرګ ښه دی .

هسې رزق دې خدای هیچالره ورنه کا  چه به رزق دچا په هسې رنګ اسباب وی
تر داهسی ز میندا ر و هغه ښه دی  چه نو کرد یو تور کافر کلاب وی
نو کری دیوه سپبی و رلره ښه ده  هغه پر یږده چه لانوم یې د نواب وی

دخشکی له غمه قوم درحمان خوښ دی
که رفتن یی له جها نه په شتاب وی

---

(۲ - ۳ - ) دغه بیتونه دحافظ وجیه الدین په قلمی نسخه کښې داسی راغلی دی:

یو هغه سړی تیری ورباندې کاندی  چه په عمر نه د سوال نه دځواب وی
همسا یه وی چر یکار د پښتا نه شی  او په اصل به مو چی یا به قصاب وی
ملا یم و یل ا ثر په هغو څه کا  چه په زړه کښې یی نه شرم نه حجاب وی

په دغو عبار اتو کښی دپښتنو لی روحیه لاقوی ښکاری (ب)

(٤) - دحافظ وجیه الدین په نسخه کښی دابیت داسی راغلی دی.

چه اشراف دهسې حریصو په میان کښیو زی ترو خلاصی به یې له خو نه په کوم باب وی (ب)

**نتیجه :**

له دې څیړنې نه داڅرګندېږي چه پښتون په هر مذهب او مشرب په هر رنګ او لباس په هر حیث او مقام چه وي د خپل محیط او ولس له روحیې نه وتلی نه شي

رحمان بابا سره د صوفي توبه دیو پښتون صوفي په حیث د خپل قوم له درد و غمه بې غمه او بې درده پاته شوی نه دی او په خپل سبك روش او اهنګ بې قومي سندرې ویلی دی

**نوټ:**

په دې مقاله کښې د رحمان بابا شعرونه د ده له هغه دیوانه څخه اخیستل شوي دي چه په ۱۳۲۸ هـ.ش کښې په جیبي قطع د ښاغلي بېنوا په زیار د کابل په دولتي مطبعه کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ سوی دی .

په ځینو برخو کښې هغه قلمي دیوان ته هم مراجعه شوې ده چه د حافظ وجیه الدین په قلم په ۱۲۱۰ هـ.ق کښې لیکل شوی دی دا نسخه ښاغلي «دردمند» په هرات کښې لاس ته راوړې ده او د پښتو ټولنې کتابخانې ته یې سپارلی ده .

ع، قتیل خوږیانی

# شاعر او سپوږمۍ

په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

شهۍ د حسن خپرې کړې پلو شې په دنیا
سپینه ر ڼاوه د تیارې مې هیڅ اثر، ونه لید
لکه د زلفو تور ه شپه کښې رخسار لوڅ شی د چا
رڼا رڼا شی یو طرف مې بل خبر، ونه لید
مرڅه ساکت و خپر ه شوې وه هم چو په چو پیا
لکه په ورانو فکر سرشی ما بشر، ونه لید
مړه زمزمه مې شوه تر غوږ خدا یږو او تر شو مه زه
په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه
قدم مې پورته کړو له ځایه شوم روان په لټه
د سوی زړه تسل لپا ر ه د مکان په لټه

گورم ولاړ یو ببرسری لیونی عاشق د ی
بره نظر کړی د سپوږمۍ سره لگیادی وائی
په خپله مینه باندې مست او سپیلنی عاشق دی
د خیال دنیا کښې په خوږه مینه بسیادی وائی
ومره پرې پوه شوم چه د خلکو خندنی عاشق دی
لیو نی شو ی په جنون د مینی بیادی وائی
ماوې جه څه وائی په پټه نزدیکتر شو مه زه
په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه
پټ ورته کښیناستم غوږ ونه د بیان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکا ن په لټه

سوړ او سیلی یې له خولې وویست په چرتو نو کښې سر
بیا، ئې په خوار وژړ ید لوهره خوا و کتل
د مخ دنیا، یې وه داوښکو دریا بو نو کښې سر
خدا یږو ژړا راغله چه دې غریب ته ما و کتل
تکیا ئې وکړه یوه کانی ته غمو نو کښې سر
په پر یشانی ئې بیا په لوری د سما و کتل
په بده ورځ د دې غریب په غمو سر شومهٔ زه
په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه
په چرت کښې لاړم د عاشق غریب حیران په لټه
د سوی زړه تسل لپار ه د مکا ن په لټه

بیا ببرسری مخاطب کړه د آسمان، ناوې
ورته لگیا شو چه سپوږمی ده محبوبا مې چیرې
تا څه پیغام راوړی ماته له جانان، ناوی!
کړ ې به قبو له دغه سوې تمنامی چیرې

ته بختور. ئې له ما څیرې گریوان. ناوې ! همیشه و ینې نا ز نینه د لربا می چیرې
تامزې و کړې په جهان خودر په در شومه زه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنې بهر شومه زه
صحرا کښې گرزمه د خپل څیرې گریوان په لټه
دسوی ز ړه تسل لپاره د مکا ن په لټه

تل له اسمانه نندا ره دنازو لو کو ې ! په لوبو . بوخته ئې د ښکلو د ز لفانو سره
کله ناکله زما خوارسلام په ښکلو کوې ؟ ته خو شریکه ئې صحبت کښې له خوبانو سره
په پوره مینه خیال دیار د تخنولو کوې! عمردې تېر شو نا ز نینو د لبر ا نو سر ه
زما ، له خوا آشنا ته وایه قلندر شومه زه په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شو مه زه
لکه مجنون یم هر طرفته سر گردان په لټه
د سوی زړه تسل لپار ه د مکا ن په لټه

آشنا ته وایه ستا په مینه کښې ر سوا شومه زه روغوبې در دورا بهر کړ مه له کلی ځنې
د لیونی مجنو ن په مثل د صحرا شومه زه غمونه لرې کړه له خوار اوغم خپلی ځنې
سر به ترې زار کړم که منظور ئې په در گاه شومه زه د اپیغام یو سه دلر با ته غم خوړلی ځنې
ستا د بڼو په غشوغوڅ د زړه په سرشو مه ز ه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنې بهرشو مه زه
درته به نا ست یم منتظر د یارفرمان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکا ن په لټه

ویلی سپوږمۍ چه محبوباته مې سلام ووایه دغه تر ور ارمان مې یوسه دخپل ځانه سره
هغې مغرورې دلر با ته مې سلام وو ایه ز مالپاره ملاقات و کړه جانانه سره
زه هم مجنون ښکلې لیلاته مې سلام ووایه وایه چه و به مری عاشق ستاله ارمانه سر
سپوږمۍ په تیغ د بیلتانه زخمی ځیگر شومه زه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنی بهر شومه زه
تاته راغلی د زخمی زړگی درمان په لټه
د سوی زړه تسل لپار ه د مکان په لټه

که درته وې ئې ! چه دې څه ور نه سوغات راوړی ؟ نو سمدستی ورته ز ما څیر ی گریوان وښیه
که وې ئې دا، چیری ؤ تا چه ترې هیهات راوړی؟ نو مخ را واړوه مسکن مې بیابان وښیه
بیا ورته وایه چه، مې خوږ ترې ملاقات راوړی که وې ئې، چیرې؟ نوزمادزړه ارمان وښیه
فخر خو دا دی چه د یار ددر نو کر شومه زه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنې بهر شومه زه
هلته به کښېدمه تندی د خوږ جانان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکا ن په لټه

په دغه تمه ډیرې شپې زما سبا شوې، کنه — دهجران شپه را باندې هیڅکله سبا نه شوه
د غمو ځلې په ما خوار له هرې خوا شوې، کنه — خو په ژوندونې مې حاصله مدعا نه شوه
که مخامخ کومه گړۍ مې له آشنا شوې، کنه — ور لره وایه عاطفه دې هیڅ په ما، نه شوه
په زړه زخمی تل دهجران له تېز نښتر شومه زه — په نیمه شپه کښې له کوټې ځنی بهر شومه زه

عمر مې تیر شو هر ساعت او هر زمان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

ما پرې ور غږ کړو لېو نیه! د غه څه وائې ته — څه دې ورك کړی ببر سر څیری گریوان خاونده؟
څه دې ورك کړی؟ چه دا هسې رنگ تر خه وائې ته — د چا په لټه ئې د بد ژوندون حیران خاونده؟
لږ فکرو کړه چه دا بد دی او که ښه وائی ته — ای د صحرا د دښتو غرونو بیابان خاونده
ستا له دې سوو نغمو ټول وجود کسکر شومه زه — په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه

تیروې څله عبث عمر این و آن په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

د خیال دنیا دې جوړه کړې لیونی د رنه جوړ — ژوندون دې پریښی معشوقې پسې صحرا لټوې
رسم او رواج نه ئې بیرون شو خندنی د رنه جوړ — کار د رنه پاتې دی د ناز ښکلی ادا لټوې
له ودانی ځنې بهر شوې سارانی د رنه جوړ — د لیونتوب زنځیر په غاړه کښې بېدیا لټوې
نورو دنیا وخوړه داغ سوی ټټر شومه زه — په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه

ته لا لهنده ئې سارا کښې تل پریشان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

آشنا لږ و پېژنه ځان خپله دنیا جوړه کړه — څو به ژوندون کښې همیشه د یار زلفان یادوې
سپوږمی ته پور ته شه ژوندون لره فضا جوړه کړه — څو به سپوږمی سره عاشقه خپل جانان یادوې
ملی دردونو ته رو کیه ښه دوا جوړه کړه — څو به په ژوند کښې موهومی شانته شیان یادوې
دامې یقین دی محوه کیږې په خطر شومه زه — په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهر شومه زه

ته د سارا شوې جهان لاړو د آسمان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

جانان به څه کړې د جهان لپاره ژوند دی په کار — دوړو کښې ور که د خپل قام خپل مزدوران وژاړه
محبوبا پریږده د ملی ژوندانه خوند دی په کار — چه د سپوږمی رڼا ته ناست دی غریبان وژاړه

د مرور ژوندون لپاره یو پیونددی په کار چه تر بگنی دی ځور ولی مظلومان وژاړه
جهان آسمان ته پورته کیږی بې وزرشومه زه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنې بهرشومه زه
په خیال کښې ورکه را بهرشه د جهان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

ویلی ناصحه دلته څه کوې ؟ اوچا راوستې ؟ یوه گوښه کښې درنه زه غریب خلا صیږمه نه
دازما کوردی، دلته ته کومې بلا راوستې ؟ ظالمه تانه په یو ځای کښې قراریږمه نه
د ،رازمحفل دی، دلته کوم یو ناروار اوستې؟ ځه خدای دې مل شه په خبرو منع کیږمه نه
د یار په مینه ټول وجود نظر نظر شومه زه په نیمه شپه کښې له کوټې ځنې بهرشومه زه
مخه دې وکړه ځه وردرومه د بل ځوان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

دومره ئې ووې نور ئې جیغه کړله و تښتیدو په منډه ، منډه ؤ روان چه له نظر فناشو
ورته کتل مې لیونې راځنې و ځغلیدو ما دې نور څه به ورته وایم له خبر فناشو
سوی ارمان ئې په فضا کښې هر طرف تاوېدو ما چه څو مخ وگرزو لوله بصر فناشو
بیرته راستون شوم له صحرا مخ په خپل درشومه زه په نیمه شپه کښې له کوټی ځنې بهرشومه زه
«قتیله» خدایزو زښته ډیر ستړی ستومان په لټه
د سوی زړه تسل لپاره د مکان په لټه

نیک محمد یکتیا تی

# پښتون څنګه خپل پوراخلی؟

دنادرافشار هغه تاړاکونه چه بر پښتونخوائي و کړل اکثر لادپښتنو په ذهنیت کښې ژوندی دی. نادر دپښتنو زړه ورتوب او توري وهلو ددوی په میړانه او شجاعت قانع کړی ؤ دنادر دتاړاك دوخت دلته ډیر څه شته خودلته یوه خاصه کامی سند ره چه تاریخی ارزښت لری او نراوسه پورې چاپ شوې نه ده لیکم

داسندره دپښتنو میرمنو له خواهغه وخت ویلی شوی چه دنادر فوځ په قندهار راغی پښتنو میرمنو ځلمیان جګړې ته ترغیب اوتودول، پخوانو پښتنو دادودساتلی ؤ چه دجګړو په وخت کښې به پښتنو میرمنو جګړنو ته حماسی سندرې ویلې .

ددې ملی سندرې نسبت دهغه وخت دناصرو پښتنو میرمنو ته شوی دی او له ښه مرغه اوس زمونږ لاس ته راورسېد له .

داسندره سرلری چه له هرې لنډۍ سره غبرګېږی او کسرورته وائی :

تړیء توري ډالونه ،تړیء توري ډالو نه پر زنیو تل وی دمرد کو بارانو نه

تړیء توري ډالونه . .

که دې دا صف و ر په شا نه کو بیادی نو ولې زه ستایم کاږه بریتو نه

تړیء توري ډالونه . .

ښاغلی و ینم پکښې توی شوه دنامردانو دې خالق مات کړی وره نونه
تړیء تورې ډالونه ...

زمریان په مخ مو زیان په شاځی ملا دې شی ماتې بدوی د کام نومونه
تړیء تورې ډالونه...

په مرګ د داسی یار نازیږم چه پر شانلری د تورې پر هارونه
تړیء تورې ډالونه ...

ولی د شا په لورې ګورې پلار دې په قبر کښې چیچی در ته غاښونه
تړیء تورې ډالونه...

په توره تم له کبره راغی لویان دې وزنی دې کم کاږی لړ منونه
تړیء تورې ډالونه ...

که توم ژوندی د کام غواړې په ټټریوسه د خنجرو پر هارونه
تړیء تورې ډالونه ...

کوچنی و لوی باندې ګډیږی په لاس ئی راوړی د (تنا) (١) غوندې توپونه
تړیء تورې ډالونه ...

که همت نکړیء حال به موڅه وی نر به مو وژنی در څخه به بیایی پېغلی نجونه
تړیء تورې ډالونه ...

ماتیې د کور پر لوری کېږی غلیم مومست په کوروهی در ته غوځونه
تړیء تورې ډالونه ....(٢)

همداډول یو بل نوم هم شته چه دهر پښتون ئې په اوریدلو غونی زیږشی او نفرت

(١) تنا دیوتوپ نوم دی .

(٢) دې سندره کښې دو یونکو دلهجی مراعات شوی په پیدا کولو کښې یې دښاغلی مولوی محمد یعقوب خان ناصری نه تشکر کوم.

ورڅخه کوی دانوم د (سرمارتیمر ویورنډ) دی چه د خپلې ناروا، او تحمیلی کرښې په نسبت چه د پښتون او پښتونخوا په زړه یې تیره کړی زیات شهرت لری !

خیر دا چه دې د واړوله پښتنو سره څه کړی دا ځانته بحث دی مونږ په دې بحث کښې دهغو سرد څه کارنلرو خود (ویورنډ) له یولیکلی کتاب څخه چه په نادر افشار ئی لیکلی او (کتاب نادری) نوم ئی پرې ایښی دد ې ستر کتا ب د پاڼوله منځ څخه دیو پښتون سرګذشت راټولوم چه زیات دلچسپ د ی .

(ویورنډ) ددې تاریخی واقعاتو په ذکر کښې یو کمال کړی دی چه مستند او زښت صحیح تاریخ ئی په افسانوی شکل کښې لیکلی دی او لکه څنګه چه ځینې لوستونکی د تاریخ د پیځلو پیښو په مطالعه ستړی کیږی بر خلاف د ( ویورنډ) تا ر یخ په ډیر شوق لوستلی شی او تاریخی پیښی ئی داسی صحیح او ثقه لیکلې چه یقیناً پری د منصف مؤرخ حکم کیدلی شی، نه د منصف سیاس. ددې له پاره چه د (ویورنډ) لیکنه له نو رو تاریخو نوسره چه د نادر افشار په باره کښې ئی ذکر کړی تر یوحده تطبیق کړم چه صحت او غلطئی ښه معلوم شی مراجعه می و کړه د (سرجان مالکم) په قول ده دربا ر ی چاپلوس مؤرخ میرزا محمد مهدی تاریخ (جهان کشای نادری) ته چه خپله د نادر افشار واقعه نګاردی ښه ځیر شوم د (ویورنډ) ټولی تاریخی پیښی هغه تا بیدوی خو په دومره تفاوت چه په ځینو واقعو چه هغه د نادر په ګټه نه وی ډیر مختصر او په یو ه مبهمه اشاره ورڅخه تیریږی او محمد مهدی باید ګرم هم نکړو ځکه هغه خپل تار یخ د نادر په دربار کښې لیکه او لکه ا کثر درباری مؤرخین مجبورؤ د در بار په نظر یه لا ړشی .

علاوه په (جهان کشای نادری) دې باره کښې نورو تاریخو نوته هم مراجعه شوی چه د هر ې پیښی په باره کښې ا شاره لازمه وی په پاورقی کښې به یې ذکرو کړم.

د نادر د زوی (رضاقلی )او (نو ر و) د نادر د هندی صورتی معشوقی د مینې په باره

کښې دپېښور د (قند) مجله کښې ښاغلی رضامومندی څه لیکلی خو هغې څه تار یخی مستند اعتبار نه لاره پری می ښوو له خو (ډیورنډ) دې روا بطو ته دستارې په نوم په پرده کښې اشاره کوی .

په هر حال زه د (نیک قدم) پښتون سرګذشت ډیورنډ دلیکنې په اساس شروع کوم دنیک قدم سرګذشت او په هغه کښې پېښې دپښتنو نماینده او دپښتون کر کټر دی او دا ښیی چه پښتون څومره دسترې سینې خاوند، میړنی، توریالی او لوړ نظره وی او بیا څنګه له خپلو دښمنانو څخه که هغه ډیر زور او قوت هم ولری خپل انتقام اخلی (ډیورنډ) دنادر د تاریخ هغه حصه چه دافغانستان په هرات ، قندهار ، غزنی ، کابل جلال آباد او پېښور کښې واقع شوی څه به دی ویلی ده خپل کتاب په همدې ځای شروع کړی چه نادر له (سند) څخه په ډهلی ورروان دی خو دبېرته راګرزیدلو څه واقعات چه په افغانستان کښې شوی مختصر ذکر ئی کړی دی .

دادی دنیک قدم سرګذشت :

نادر (ډهلی) ونیو او محمدشاه دهند مغلی ضعیف امپراطور ئې مغلوب کړ دهند نه ئې د (طاؤس) تخت، کوه نور، دریای نور او نور غمی او دهند غنی خزانه ئې له ځانه سره راواخیستلې بیرته راستون شو

دذکر شوی بې حسابه دولت چه پر (١٣٠٠٠) صندوقونو کښې تړلی ؤ علاوه یوه هندی پی مخې چه (ډیورنډ) ئې (ستاره) بولی هم ورسره راروانه کړه .

(ستاره) اصلاً (راجپوته) وه ددې پلار ور وراوټبر کوم مغلی شهزاده وژلی وو تر څو چه ښکلی ستاره دځان کړی خو (ستاره) له مغلی شهزاده پټه و تښتېد له اود ډهلی مغلی دربار کښې له کومې راجپوتی ښځې سره پاتې شوه

څه وخت چه نادر ډهلی فتح کړ او له محمدشاه څخه ئې څه ښځې هم وغوښتلې نو (ستاره) هم په هغو کښې وه چه نادر ځانته خوښه کړه .

نادر له هند څخه بیرته (اټك) ته راورسېد او له اټك څخه په جسر تېر شو ددې ځای په غرونو کښې یوسف زی پښتانه اوسېدل چه قوی اوزړه ور کام دی او هیڅکله یې سر بیګانه ته نه دی ټیټ کړی او له نادر سره ئې هم جګړې و کړې (۱)

نادر ارزولر له چه دیوسف زیو توریالی ځوانان په خپل فوځ کښې داخل کړی او دائې غوښتل چه څو زره پښتانه ورسره وی چه دا غیور میړ و نه په را تلو نکو فتوحاتو کښې استعمال کړی ، او په خپله نادر ددوی دشجاعت، جرأت ،قوت توصیف کاوه چه باید دا نه وېرېدونکی پښتون کام زما په پوځ کښې وی .

خو پښتانه سر سخت او دخپلوا کی خاوندان وو نادر ویل:

--«دوی هیڅکله د بیګانه شاه او امیر اطاعت نه دی منلی او حتی دخپلو مشرانو هم چه دنورو له پاره څه پې قبلوی اعتنانه کوی، که ماته راشی او اداره ئې مکمله شی نو څه قوت به ورڅخه جوړ شی! ؟ .

هغه شپه (ستاره) د نادر معشوقه او ده نشوه، نادر په درانه خوب ویده ؤ.

(ستاره) له خېمې راووتله دیوسف زیو دغرونو اورود تماشائې کوله چه دستورو په ضعیفه او تیاره رڼا کښې لرې ښکارېد ل.

داردو پرټولو ګوښو کښې چپه چپیاوه هیڅ آواز نه اوریدل کېد .

خود کچرو دګونګړو اود او بو دسخت غریو چه څلوېښت ګزه لاندې پر تېز و توئېدلی غزو نه وو.

دحرم خیمې په معمولی ډول په یوه مدوره احاطه کښې وهل شوی وې او تجیر ئې دخمتاو. دخوجه ګانو ددوو تجیرونو په منځ کښې باندې خوایود جالی تجیر هم ؤ چه مسلحو خوجه ګانو به پکښې څاراو پیره کوله.

(۱) جهان کشای نادری مخ «۳٦٦»

دجالی دتجیر له څټه دحرم دلارې په منځ کښې دپیره دارو خیمه وه .

څه وخت چه (ستارې) دخپلې خیمې په مخ کښې د جا لی دارې پر دې له څټه دباندې کتل وئې لیدل چه حرم ته دداخلېدو په لار کښې څه ښوری، سترګی ئې دستورو له رڼا سره روږدی شوې، نو یقین ئې و کړ چه یوه توره شبح د خیمې د دیوا ل په سیوری کښې وینی. اول یې داخیال و کړ چه کوم سپی یا ګېدړه به وی چه دخو را ك موندلو پسې به راغلی وی خو هغه شبح هر څه چه وه تر یوې دقیقې پورې په خپل ځا ی غلې پاتې شوه کله چه بیا وخوځېداله داسې ورو اوغلې ښوریده چه (ستاره) ئې په تحقیق کولو مجبوره کړه .

داورته ځیره وه چه دخیمې له سیوری راووتله اوارتې ځمکې ته راورسېدله ، وئې لیدل چه په هغه پسې یوه بله ده ورپسې بله!

فوری په غړی تښتېدونکی وېره کښې د(ستارې) دامطلب زړه کښې وګر ځید چه داشکلونه سړی دی چه په احاطه کښې په سینه راروان دی او د دې دخیمې دروازې ته راځی په لحظه کښې ئې شک په یقین بدل شو، کله چه په مخ کښې سړی بیا وښورېده یو دفولادو ضعیف برق دستورو په رڼا کښې وځلید .

د(ستارې) اول اراده داوه چه چیغه کړی اواردو پې خبر کړی خوښورېدونکی شکلونه له پنځوس قدمو څخه ورته نژدی وو، نو وپوهېدله چه که بدخیا ل لری په یوه ترپ دخیمې خولې ته رارسېدلی شی نو که همداسې ئې پریږدی چه و رو ورو راځی اوخیال و کړی چه چانه دی لیدلی نو دومره فرصت موندلی شی چه نا در خبر کړ ی .

بیرته په بیړه خیمې ته ننوتله اوخپل لاس ئې دنا در په لا س کښې کښېښود نادر ویښ شو خو چه پوه شو چه څه بده حادثه واقع شوی ده فوراً جګ شو اوخپل

تبرګی ئې په لاس کښې ونیو او (ستارې) دی دخیمې ورته بوت اود خطر ځای ته ئې اشاره وکړه. هغه سړی دمځکې په مخ بې حرکته پراته وو، ښایی د (ستارې) دپښو ضعیف کښ ئې اورېدلی ؤ نو ځای په ځای تم شول، نادر یوه دوه ثانیی ودرېداو هغې نقطې ته ښه ځیر شو لاتر اوسه دستارې رهنمالاس دده لاس نیولی ؤ، هغه شبح بیا په راوړاندې کیدو شوه او په سینه راروانه وه.

نادر فکر وکړچه که ددوی خواته ورشی نوضرور به حمله پرې وکړی خطر دی، بېرته خیمې ته ننووت او یه وروئې ستارې ته وویل: «آغاباشی (دحرم محافظینو مشر) دنادر د آغاباشی دخیمې خواته لاړ او سړی بې خبر کړل، نادر څو کسو ته وویل چه درود غاړی اردو ته خبرور کړی او ستارې ته ئې وویل چه همدلته ولاړه اوسه. ستاره هم دخیمې په وره کښې ولاړه وه او ورته کتل ئې.

نادر او پیره داران دحرم خواته راروان شول په همدې وخت کښې دهغه پیره دار شبح چه دخیمو په مخ کښې ئې قدم واهه دستورو په رڼا کښې ښکار ېدله چه په تېزه ناست او ویده دی او پخوا کښې ټوپک هم ورسره پروت ؤ، نادر دهغه په اوږه لاس کښېښود خو ونه ښورېده ځکه مړ ؤ!!

څټ ئې دخنجر په ټپ چه ددواړو ولیو په منځ کښې بې وهلی ؤ په وینو سور ؤ، پشمی یوه پیرړه ټوټه ئې له سر ورتاو کړی وه.

نادر امید لاره چه حرم به په پټه محاصره کړی او هغه سړی به ونیسی، خو دهغو ځور کو غوږ ونو دار دوزوږ اور ېدلی ؤ، دې وخت کښې دنادر غوږ ته دستارې غږ ورسید نادر چه راوګرځید او ستارې ته ئې وکتل داوخت دریو کسو منډې وهلې دپیرې له خیمې تیر او درودخانې خواته تلا او یوه ئې یو پوخ خرپ په لار کښې یوه فوځی ته ورکړ، دهغه فوځی دآخ غږ واورېدل شو

خلکوله هرې خواهجوم جوړ کړ څوړزې هم وشوې، مګر کله چه نادر او حاضر باش ئې هغې ستري پرښې ته چه درود په غاړه وه ورسېدل له ښکته تېزوئې دپښوترپا او اخیرئې داوبو شړپا واورېدل :

ډېر ژردسیندغاړه مشعلو نورنا کړه او ډېرې دټوپکو ګولی دتیارې اورودخانې خواته توئې شولې خوواړه بې فائدې وې .

لږوروسته نادر بېرته راوګرځیده. چه ده غږو کړ ستاره راووتله او ویې ویل:

.. قربان جوړه یم، هغو خیال و کړچه زه مړه شوم په مائې دچړې وارهم و کړ خوترینه ټوپ می وواهه، هغه منډه کړه ورته خلا صه شوم !

نادرورته وویل :

ـ الحمد لله

لاس ئې دستارې په اوږه کښېښوداووئې ویل:

ـ که ته نه وای ممکن ؤ چه ماته بده پېښه شوی وای !

له لرې دسیندله هاخوا یوغږ راغی اویوه دجراءت اوبری خدای په امانئې ورته راولېږله اونفرسلامت هغې خواته تېرشول .

ددوی دزړه ورتیایوه مهیبه بېلګه درودپه غاړه پرته وه ، څه وخت چه دوی منډی وهلې یوفوځی ددوی په لار کښې درېدلی ؤ چه هغه مړاوهلته پروت ؤ ،.

یوې درنې چړې ئې ګروې اوغاړې پرې کړې وی غرښې اوهډو کی ئې ورته غوڅ اوزړه ته رسېدلې وه، نادروویل:

ـ آفرین! دادې مېړه خرپ دی، زمونږ مخ تورشو، په خدای چه دوی نران وو. په اردو کښې سکون پیداشو، نادر بېرته دستارې خیمې ته راغی .

هغوسې یو دستاري جواهر چه هغه شپه ورسره وو، وړی وواوړېږ کلونه دریو یوسف زیو پېغلو هغه په ځان جړاو کول .

دپښتنو دې زړه ورتیا اوجراءت په نادر دخپل فوځ شپږ زره کسه وو ژل چه ولی بېدارا وویښ نه وو .

خودیوسف زیو په نسبت ددې میړنی جرأت په اثر نادر نورهم حریص شو چه له دوی څخه څه په فوځ کښې ونیسی، نو په عذراو نورو ډیرو وعدوئې یو ه اندازه فوځ ورڅخه ونیولی شو نادر یوسف زیو ته و ویل:

ـ څه چه غواړیء له مائې واخلیء، تاسې زړه ورمیړونه یـیء، تاسو زړه ور اوزه دزړه ورواحترام کوم .

کله چه نادر له (خیبر) څخه تېرېده دزور اوقوت چلول د پښتو ن کام سره بی فائدې ورته ښکاره شول، نوله هغو بې حسابه خزانو اوولجوچه له هند څخه ئې راوړې وې، دخیبر دخلکو برخه ور کړه اود خیبر خلك په دې قانع شول چه له ستر فاتح څخه ئې بد رگه واخستله (١)

کله چه نادر کابل ته ورسېد یوه ورځ ئې له ستاري سره خبرې کولی ویې ویل :

ـ افغانستان ښایسته ملک دی اود کابل غوندې میوه په دنیا کښې نشته، خو پښتانه بېکاره اوبې ښې دی، سره له دې چه داسې ښه انگور لری ښه شراب نشی جوړولی اوهیڅکله دشیراز غوندې شراب نشی تیارولی .

ستاره په خندا :

ـ قربان نوایرانیان دځینو کارودپاره ښه دی؟

(١) منشی احمدجان دافغانستان دتاریخ په (٢٥٢) مخ کښې لیکی: نادرلس لکه روپی بډی ورکړې او په خیبر تیر شو .

نادر- هو! ښه شراب جوړوی اوخوری ئې خودبل هیڅ کارله پاره ښه نه دی یو پښتون په لسو ایرانیو ارزی .

نادر بیادسندد (خدای یار عباسی) دایل کولو له پاره د(بنګښو) او (ډیرو) په لارلاړ اوله سند څخه هرات ته ورسید (۱)

پههرات کښې یې دهند بې شماره خزانې چه راوړې ئې وې عامه خلکوته وښودلې، اوپه هرات کښې دده زوی رضاقلی هم ورسره بوځای شو، یوه ورځ نادرله ستاری څخه پوښتنه وکړه :

- اوریدلی به دې وی چه زما زوی له ایران څخه راغلی دی ؟

ستاره:- هو!قربان ! تاسې مې ولیدلیء چه ددوی دملاقات له پاره موله شاهی خیمې آس وځغلاوه اودباندې موتشریف یووړ .

نادر:- ښه هلك دی ډېر ښه شوچه راغی، وراره مې هم په فوځ کښې راسره شته، خورضاقلی به ډېر خدمت تاته وکړی شی .

ستاره:- انشاالله تعالی، وائی ولیعهد زړه ورسپاهی دی .

دنادر یه ښه کښې دنفرت آثار ښکاره شول اوویې ویل:

نادر:- ولی هغه ته ولیعهدوا ئې ؟

ستاره:-ماواوریدل چه ولیعهدور ته وائی اوخپله تاسې هم داسی وویل نوو لیعهد نه دی؟

نادر ستاری ته وکتل له یوې ثانیې وروسته ئې ځواب ورکړ :

نادر:- اشتباه دې نه ده کړې قابل، زړه وراوله ټولو څخه ستردی، خودولیعهد تاکل په ماتعلق لری .

---

(۱) د ۱۱۵۲ هدربیع الاول په لسمه د دوشنبې په ورځ هرات ته ورسید، دجهان کشای نادری (۳۷٦) مخ اوپه تخت طاؤس کښیناست، سرجان مالکم تاریخ ایران (۳۳) مخ دوهم جلد.

ستاره:- قربان! شك نشته په ایران کښې له تاسې غیر بل څوك نشته هر څه چه حکم کوئ ټول ئې مني.

دنادر له زوی څخه درورو نفرت زائل کېده اودخپل زوی په صفت ئې شروع و کړه.

نادر له هرات څخه د (بخارا) او (خیوی) خواته حرکت و کړ، (بلخ) ته لاړ (۱) له (آمو) سیند څخه ئې فوځ په جسر تیر کړ او دبخارا پاد شاه و رته تسلیم شو.

نادر دخیوې له ترکمنوسره په جګړه شو، خپل زوی رضاقلی ئې له څو زره سپروسره (۲) (چارجوی) ته دآذو قی او کشتیو دساتنی له پاره ولېږه او نا در ورپسی راروان شو.

رضا قلی له جیحون څخه تېر شو او آذوقه په خپل ځای سا لمه وه.

نا در رضا قلی ته د تګ په وخت کښې سفارش کړی و چه: ترڅو زه نه یم در رسیدلی له ترکمنو سره جګړه مه کړې ځکه چه هغه به په حیله

(۱): نادر له هرات څخه د (ماروچاق) او (چیچکتوی) او (اندخود - اندخوی) له لارې دبلخ خواته حرکت وکړ. جهان کشای نادری (۳۷۸) مخ

په ۱۱۵۳ ه کښې د (ماروچاق) او (چیچکتوی) له لارې بلخ ته روان شو (۱۸۰) مخ پسر شمشیر. نادر په بخارا دیر غل کولو تصمیم ونیونو په ۱۱۵۳ه دمحرم په ۱۰ یې دفوځ د ټولولو اعلان وکړچه له ایران اومستعمراتو (!!) څخه (مقصدافغانستان دی) نفر، آسونه، وسله، لباس اوهرڅه چه میسرشی دفوځ له پاره چه دترکستان په سفرروان دی دهرات ښار او (قره تپه) ته ئې ورسوی. (۶۰۳) مخ اول جلد. تاریخ نظامی ایران - جمیل قوزانلو،

(۲): نادر رضاقلی له اته زره فوځ سره (چارجو) ته ولیږه، جهان کشای نادری (۳۷۹) مخ د ۱۱۵۳ه درجب په ۱۶، په (خواجه قلعه سی) کښې نادر ته خبر ورسید (خواجه قلعه سی دچارجوی په ۷۲ کیلومتری کښې واقع ده) چه دخیوې ترکمن د (محمدعلی اوشاك) په ملګری په چارجوی ور روان دی- پسر شمشیر (۱۸۴) مخ.

تا دښتې ته وباسی او فوځ به دې تلف کړی ، که دوی جګړه درسره کوله ته محض مدافعه کوه .

رضاقلی زلمی اووینه ئې ګرمه وه دنادرخبرې ئی ونه منلې په تر کمنوئی حمله وکړه هغوی هم په چل دی دښتی ته وو یست .

نادر چه چارجوی ته نژدی شو په دښته کښې ئی ځینی سپاره ولیدل معلومیده چه تر کمن دی نادرغونډی ته وخوت او پوځ «تیارسیء» شو. اولرې له یوې نقطی څخه غړو سکه ګرد پورته کیده (۱) .

دفعتا په تر کمنو کښې شلوغ پیدا شوا سونه ئی وګرزول او ځغلیدل دوړې او ګردونه پورته شول او په دوړو کښی نادر دسرنیزو برق لیده له یوی ګړی وروسته نادر لیدچه یو سپورسم دپل پخوا راځې ، دی سپه راس تند ځغلاوه او تر کمنو له ښی او چپه اړخه حملی پې کولې چه وئې وهی .

دې منظرې صرف یوه معنی لرله چه رضاقلی قاصدرا لېږلی هغه کوشش کوی چه پل ته ځان راورسوی او تر کمن سعی کوی چه ور څخه خلاص نشی .

نادر دده خنګ اس لیدا ودتورو برښنا چه ښکته پورته کیده نادر ته ښکاریده او داسی بریښیده چه سپور په سخت فشار کښې راګیر شوی دی او دی په میړانه او شجاعت هڅه کوی چه ور څخه تیر شی .

نادر په غوږ ځی خپل تیر په سر پورته کړاو په یرغل هغی خوانه له پوځ سره روان شو، دوی لا په تګ کښې ؤو. وئی لیدل چه سپورلاره کږه کړه چه ځان دتر کمنو له زیات جمعیت څخه وباسی او یوه دوه دقیقی داسې ښکاریده چه ګویا د هغه ګرد چاپیر تر کمنو نیولی ، خو دنادرله فوځ څخه دتمجیداو نصرت چه پورته شوه.

(۱) ماز پښین دنادر څارکوونکو فوځیانو ته دخوارزم دلښکر ټولنه او تورګرد معلوم شو نادر ته ئی خبر ورساوه ده حمله پرې وکړه تر کمن ئی مات کړل جهان کشاې نادری ۳۸۵ مخ.

خنګ آس دنیزو او ګردونو له منځ څخه راووت او سك سیخ ځغلیده. تر کمنو تر یوه حده پسی منډه کړه او بیاو پوهیدل چه وخت تیر شوی دی بیرته و ګرځیدل او په دښته کښې تیت شول .

نادر ملونه ټنیګه کړه ودرید، هغه میړنی چه له دې سختی تهلکی څخه ځان خلاص کړی ؤ نادر ته رانژدی شوله آسه ښکته شو دښکته کیدلو په وخت کښې ئی پګړی له سره وغورځیدله او غټ خریلی سرئی ښکاره شوله مخ او نورو زخمونو څخه ئی وینې په زیره را څڅیدلې او په لاس کښې توره ئې هم په وینو سره وه، څنګ آس ودرید او سرئی ښکته واچاوه .

نادر وپېژاند چه دا میړنی پښتون دی ورته ویی ویل :

- آفرین ، آفرین ؛ نر او میړه یې، څه خبر دی راوړ ې ؟

پښتون :- ژر مخ کښې روان شی ء د دښمن ټول لښکر ولیعهد محاصره کړی دی د ولیعهد فوځ د دوی صف نشی ماتولی اګر څه زمونږ فوځیانو ښه جنګ و کړ خود ښمن د ملخو غوندې دښتی ډکې کړی دی له ګهیځ نه جنګ شروع دی زمونږ فوځ له تندې څخه بی سدی ته نژدی شوی، د دښمن آخری حمله دفع او تم شوه او ولیعهد په سختی نجات وموند او ماته ئی وویل چه که د دښمن له صف څخه ووتلی شې. ولیعهد په خپله دیوی بلی حملې په دفع مصروف ؤ، د فوځ ګولی هم کمې شوی دی، او به هم نلری نوژ ر په «مخ ځاو» امر پوځ ته ور کړه .

د نادر رنګ تورو اوښت ویی ویل :

- : ته څوك یې؟ لار راښودلی شې ؟ ته خوزخمی یی.

پښتون : څه نشته، تر کمنو ځنې تیزې په مالګیدلی دی خوزه د دې پروانه کوم هوزه لار درښودلی شم زه نیک قدم یوسف زی پښتون او د ولیعهد خاصه حاضر باش یم .

(نور بیا)

## پته

غازی واټ، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتیلفون لمبر ۲۱۷۱۶

## داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي ځایند کیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په ادارد کښې هم اخیستل کېږي

# KABUL

## Monthly Journal Of The

## Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه